
ویښ
فکر
Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350
د مسلمانانو پر ننني وضیعت
کفري یرغل او اسلامي سیاست لیکني
لیکوال : عصمت کلیوال

# ویښ

# فکر

د مسلمانانو پر نني وضعیت

کفري یرغل او اسلامي سیاست لیکنې

لیکوال عصمت کلیوال

کال : ۲۰۲۴

httpst.meAryanPashtoLibrary

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: ویښ فکر

لیکوال : عصمت کلیوال

خپرندوی:

د چاپ کال:

د چاپ شمیره:

ډیزاین: عصمت کلیوال

د چاپ لګښت:

httpst.me/AryanPashtoLibrary

# ډالۍ

د سنګر او دفتر مجاهدينو ته ...

او په خاص ډول د اسلامي امت هغه ځوانانو ته چې په خپل ټول توان سره د اسلامي نړۍ
د ځوانان نسل د راويښولو هڅه کوي، د يو نړيوال اسلامي نظام او د اسلام د برم د
بيا را وستلو په تکل راوتلي...

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# لیکلړ

حضرت عمر فاروق رض په ویل:..........أ

فکري یرغل د طاغوتي ځواکونو هغه معنوي جنګ دی، ..........ب

د جهاد له قیادت، دیني مدارسو، او مکاتبو له استادانو څخه مې هیله داده ..........ج

دا ډول کتابونه د ټول ملت لپاره د ویښتابه پروګرامونه دي..........ج

۱. اسلام او سیاست څه ارتباط لري ..........1

۲. ویښ شه ..........4

۳. کفري دسیسې..........5

۴ . امریکا څه ډول اسلام غواړي..........8

۵. د امریکایي اسلام تعریف..........9

۶. په عموم کې غربیان څه غواړي..........11

۷. د فریمیسن خفییه تنظیم..........14

۸. د ایلومیناتي خفیه تنظیم..........16

۹. فکري جګړه..........18

۱۰. رواني جګړه..........20

۱۱ دجال او دجالیت څه دی او څنګه ترې ځان وساتو..........23

۱۲. ملګري ملتونه که د دجال کور..........26

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

۱۳. فیمنیزم که د دجالي حکومت دام ښځو ته ... 28
۱۴. منځنی ختیځ او د ملګرو ملتونو منافقت... 34
۱۵. د اسلامي مرکزونو لپاره د دجال دام... 37
۱۶. حالات ولې سرچپه شوه ... 41
۱۷. د دریمي نړیوالي جګړې لپاره امادګی او موږ ... 43
۱۸. اسلام، عقل، زموږ برداشت او اختلافات... 46
۱۹. اوسنی د زده کړې سیستم... 50
۲۰. ملا باید وپیژنو... 55
۲۱. د ویښتابه له سرلارو څخه د شیطاني لښکرو ویره... 57
۲۲. اسلامي امته ... 60
۲۳. ۲۳. د نړیوالو نظامونه لنډ مثال... 62
۲۴. د پای هیله... 65

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# سریزه

**حضرت عمر فاروق** رض **به ویل:** موږ ذلیل وو او بیا الله ﷻ په اسلام سره ډیر عزتمند او معزز کړو؛ له دې وروسته که موږ له اسلام پرته په بل څه کې د عزت طلب وکړو، نو الله ﷻ به مو بیا ذلیل، نیست او نابود کړي

**محترمو لوستونکو! اسلام د عزت، فت، حیا، وجدان، شرف** ... دین دی، تر څو چې موږ د اسلام رسۍ ټینګه نیولې وي موږ به عزتمند یو او د نړۍ ستر ستر قدرتونه به را څخه په لړزان وي، او که خدای نکرده زموږ څخه لږ هم دا رسۍ سوسته شوه او غفلت مو وکړ نو یقین ولرئ چې د الله ﷻ په ستر عذاب به له غفلت څخه را پاڅېږو.

دا اوس چې پر مسلمانانو په نړیواله کچه کوم حالات روان دي دا هم زموږ د عملو پایله ده، د غرب د جلبوونکو دسیسو په لومو کې غورځېدلي یو؛ خو ناوخته نه دی راشئ چې په نړۍ د اسلامي زرین دور د بیا راوستلو لپاره لستوڼې را ونغاړو، راشئ چې اسلامي خلافت او اسلامي شریعت بیا په ټوله نړۍ حاکم کړو، راشئ چې د مسلمانو ځوانانو د راویښولو هڅه وکړو، راشئ چې د وخت د قصرا مانۍ (سپینه مانۍ) ولړزوو...

پر موږ هر یوه لازمه ده چې د اسلام د برم او وقار د بیا راوستلو لپاره خپل هڅه وکړو او اسلامي امت د ذلت له کندې څخه د راپورته کولو لپاره زینې جوړې کړو؛ راشئ چې حالات بدل کړو...

**ما د خپل قدرت مطابق د اسلامي امت د ځوان نسل د راویښولو هڅه په دې کتاب کې کړې؛** دا کتاب په اصل کې د څو مقالو ټولګه ده چې ما وخت په وخت د ټولنیزو رسنیو له لارې خپرولې او وروسته مې اړین وبلل چې د یوه کتاب په شکل یې ترتیب کړم؛ دا مقالې مې د دینې علماوو له بیانوو، د فکري پوهنې له کتابونو، تاریخ، تجربو او ډول ډول مقالو او مستندونو له کتلو وروسته لیکلې او خپرې کړې دي...

**د دې کتاب لیکل مې ځکه اړین وبلل چې زموږ هېواد خو په عسکري جګړه د دنیا هیڅ زبر ځواک** نشي ماتولای او په یوه پېړۍ کې د دریو امپراتوریو د راپرځولو افتخار یې په برخه دی، خو متآسفانه زموږ پر اسلام د مینو عسکرو د غربیانو فکري اشغال ته په پوره معنا فکر هم ندی، د دې له لپاره چې له غرب څخه په پوره ډول ازاد او یو خپلواک اسلامي نظام ولرو باید د دوی له فکري اشغال څخه هم ازاد شو؛ د سیاست پلار ویستون چیرچل به ویل:

د استعمار لپاره دوه شیان اړین دي؛ لومړی ناپوهه اکثریت او دوهم خاین اقلیت؛

که خاین اقلیت ورک کولای نشو راشئ ناپوهه اکثریت خو ورک کړو...

**فکري یرغل د طاغوتي ځواکونو هغه معنوي جنګ دی،** چې یوازې او یوازې د اسلامي امت په خلاف پیل کړای شوی دی، له همدې امله د اسلامي امت پر علماوو، روڼ اندو او ځیرکو مجاهدو دعوتګرانو لازم دي چې په دې هکله د خپل د وس او پوهې په اندول د دغه مهلک او تباه کوونکي عقیدوي توپان د مخنیوي لپاره پاڅون وکړي، او د خپل توحیدي او اسلامي کفر لړزوونکي رسالت او هاند له تاړاکونو څخه وژغوري.

**که څه هم له بده مرغه زموږ د ځوان نسل زیاتو برخو خپل د اسلافو تاریخ ته شا کړې،** او همدا خاطر دی چې اسلامي امت د زوال خواته روان دی؛ خو د اسلامي رڼا د روښانه ساتلو لپاره د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د ویښتابه داسې سرلاري شته چې د نوي او زاړه جاهلیت په افکارو او نظریاتو لکه سیکولریزم، لبرالیزم، نیشنلیزم، کمونیزم، سوسیالیزم، کپیټالیزم، صهونیزم، صلیبیت، یهودیت او د وخت په بدعاتو او خرافاتو سخت ګوزارونه کوي؛ امت له درانه خوبه راویښوي او د اسلام دښمنانو چې د اسلام په سپېڅلي دین کومې خاورې او دوړې غورځولي وي هغه ور څخه لیرې کوي او نړیوالو ته د اسلام اصلي څهره وړاندې کوي.

**له بده مرغه د عصري نړۍ او د فتنو په دې زمانه کې په عام ډول نارینه وو کې دا خبره وي چې** خپله خو لمونځ او نور عبادات کوي او د جنت ترلاسه کولو لپاره په نیکو کارونو وخت لګوي؛ مګر د

خپلو زامنو، خوېندو او لورګانو دومره فکر نه کوي ؛ د همدې امله د هغوی د کورنيو په ژوند کې له ديني اړخه ډېره تشه مونډل کېږي.

په شروع کې نارينه دې تشې ته فکر نه کوي، مګر د وخت په تېرېدو سره دا تشه پراخېږي، بيا داسې وخت هم راځي چې دوی کوم څه حرام ګڼي او مېرمن يا ماشومان ورڅخه منع کوي، هغوي يې د موډ او فيشن په نوم د خپلولو لپاره تيېنګار کوي.

نارينه وو ته په کار ده چې د خپل اخرت تر څنګ د خپلو کورنيو د ژغورلو چمتوالی هم ونيسي، هغوي ته وخت ورکړي او ديني روزنه يې وکړي او د راتلونکو ګواښونو څخه يې خبر کړي.

د جهاد له قيادت، ديني مدارسو، او مکاتبو له استادانو څخه مې هيله داده چې د فکري اشغال، کفري دسيسو او دې ته ورته د غربيانو له نورو پلانونه زموږ نوی نسل خبر کړي تر څو ځوان نسل يې هر ډول يرغل ته اماده وي.

دا ډول کتابونه د ټول ملت لپاره د ويښتابه پروګرامونه دي چې بايد ټول ترې مستفد شي خو د معليمينو، مدريسينو، امامانو، محصيلانو، خطيبانو، د مکتب او مدرسې طالبانو او پوهې او نظر خاوندانو ته په خوارا زياته اندازه مهم دی او پرې لازمه ده چې مطالعه يې وکړي ځکه چې همدغه خلک د عقيدې، ايمان، اخلاقو، تمدن او ملي ارزښتونو ساتونکي او مدافعين دي، که چيري دغه خلک دين، ملت او هيواد ته وفادار پاتي شي، ټول ملت به په ازادۍ، سر لوړۍ او عزت کې ژوند تېروي او خدای نکرده که دغه خلک د پرديو افکارو، نظرياتو، عقايدو او فرهنګ ښکار شول نو ټول ملت به د ذلت او بد بختۍ سره مخامخ کېږي.

او په پای کې يادونه کوم که زه په کوم ځای، يا کوم حکم کې خطا شوی يم، او يا مې يوې تاريخي پيښې ته له بلې زاويې کتلي وي، نو خپل خطا ته د متوجې کولو هيله درڅخه لرم...

په درنښت

عصمت کليوال

# ۱. اسلام او سیاست څه ارتبـــاط لري ...

دا درې جملې به مو اوریدلي وي

۱- زه سیاسي نه یم.

۲- زه له سیاست سره علاقه نلرم.

۳- زه له سیاسي بحث څخه بې زار یم.

لاندې لیکنه ولولئ او دا خپله وګورئ چې دا جملې څه حکم لري...

ځیني کسان وایي چې اسلام له سیاست سره ارتباط نلري؛ لومړي خو باید داسي خلک خپل عقیدې جوړي کړي، ځکه اسلام له سیاست سره ډیره تینګه اړیکه لري ، په اسلام کې لومړی بناء کلیه طیبه ده (لااله الاالله محمدرسول الله) کله چې وایې (لااله الاالله) ـالهـ څوک دي؟

(ـالهـ هغه ذات دي چې عبادت یې کیږي او قانون (شریعت) یې عملي کیږي)

نو سیاست څه دی...؟... په عامه معنا سیاست د قانون تطبیق په یوه ټولنه کي دی، خو اسلامي سیاست د الله ﷻ د قانون (شریعت) تطبیق دی د الله ﷻ پر ځمکه...

حجه الاسلام زین الدین محمد الغزالی د سیاست تعریف داسي کوي: د خلکو د اصلاح او هغې لارې ته د لاربنوونې چې د دنیا او اخرت د خلاصون سبب کیږي، یوازنۍ ذریعې ته سیاست ویل کیږي

که چیرې زه مسلمان یم او کلیمه وایم دا د الله ﷻ سره وعده ده چې ستا قانون به تطبیق کوم.

که د الله ﷻ شریعت حاکم نشي د الله ﷻ حکم نه تطبیقیږي، که سیاست نه وي نو دا نه تطبیقیږي، په همدې خاطر رسول اللهﷺ چې کله مدینې منورې ته لاړئ خپل اسلامي حکومت یې تاسیس کړئ، چې د دولت په راس کې رسول الله ﷺ وو؛ او د رسول الله ﷺ جسد دفن شوی نه وو چې مسلمانانو ابوبکر صدیق ؓ د خپل خلیفه په توګه وټاکئ.

هیڅ صحابي داسي نه وو چې له سیاست سره یې ارتباط نه درلودی، ځکه هغوي پوهیدل سیاست دی چې په وسیله یې د الله ﷻ شریعت تطبیق کوای شو.

۳۰ یا ۳۵ فیصده اسلامي احکام فردي دي او پاتې ۷۰ فیصده له جامعې سره ارتباط لري دا چې ۷۰ فیصده احکام اجتماعي دي دا پرته له حکومت او بیله اسلامي نظام څخه نه تطبیقیږي...

په همدي خاطر د اسلامي نظام اقامه او د اسلام د بیرغ رپول پر مسلمانانو فرض دي، او حتا د اسلام بیرغ باید پر یو ځای په زور ورپول شي.

خو کلیمه په زور نه ده، یو هندو کوای شي د اسلامي بیرغ لاندي هندو واوسي، یو یهودي کوای شي د اسلامي بیرغ لاندي یهودي و اوسي... مګر په نظام کې مطلق او یواځی باید د الله ﷻ قانون تطبیق شي...

دا هر څه پرته له قوي سیاست او با وجدانه سیاستدانانو څخه نه کیږي؛ په همدې خاطر پر هر مسلمان لازمه ده چې په اسلامي سیاست او د کفارو په دسیسو ځان ښه سم پوه کړي، څکه له کله نه چې د اسلام مبارک نور په دې نړۍ خپور شوی دی د تیارو پیروان یې د خاموشه کولو هڅه کوي...

که د ډیموکراسۍ په غبار لړلې یوویشتمه پیړۍ کې د اسلامي نظام تر خاورو لاندي شوی غمی له خاورو او ګردو و څنډل شي، ځلا به یې د بشریت ستر ګې رڼې کړي...

اسلامي نظام د اسلامي تولنې د بقا سبب کیدلای شي او په نشتون کې به یې خلک د کفري قوانینو څخه متاثره شي او له غرب څخه د متاثره شوو خلکو اسلام تر ډیره په سینه کې نه ساتل کیږي ( په لاندي مقالو کې د غرب څخه د متاثره شوو خلکو ایمانونه هم څیړل شوي )

د اسلامي سیاست په اړه برحاله امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخند زاده وایي:
زموږ سیاست او زموږ قانون شریعت دی او که چیري خدای نکرده اسلامي قانون، اسلامي سیاست او جهاد په یوه تولنه کې کمزوري شي بیا نو د غربي قانون او فرهنګ له راتلو څخه هیڅ د منعه کولو منبع نشته... په دا ورستیو کې ځینو مرتدینو د رسول الله ﷺ سنت او شریعت د هغه وخت او هغې ځمکې لپاره مشخص کړي او ادعا یې کړي چې د رسول الله ﷺ سنتو باندي عمل کول نعوذ بالله د پیغمبر ﷺ لپاره د اله وصف یادیدل دي.

او په دې ډول د اسلامي شريعت د له منځه وړلو هڅه کوي او پر ځای يې امريکايي اسلام (لاندې يې معريفت شته) په نړۍ خپرول غواړي خو دوی نه پوهيږي چې د اسلامي شريعت ټول احکامات او حدود ابدي دي او په هيڅ مکان او هيڅ وخت کې د تغير وړ نه دي...

او دا چې دوی وايي په سنتو عمل کول څنګه دي نو زه به يوازې دومره ورته ياد کړم چې الله ﷻ په قرآن عظيم الشان کې فرمايي: محمد ﷺ هيڅ هم له خپل ځان څخه نه دي ويلي بلکې هرهغه څه چې هغه وايي ښکاره وحي دي.

دا د غربيانو غلامان فکر کوي چې د اسلام ورک کول خو ناممکن شوي راشئ چې د مسلمانانو زړونو ته شبهې واچوو او تردد کې يې اسير کړو...

د غربيانو او د دجال د پيروانو په فتنو او دسايسو پوهيدل او د هغوی مخنيوی له قوي سياست او پوهي پرته ناممکن دی...

د سياست پلار ويستون چيرچيل به ويل: د يوه هيواد له منځه وړلو لپاره جګړې ته ضرورت نشته؛ يوازې پوه او غښتلي سياستوال يې ختم کړئ او احمقان يې سياستوال کړه...

اوس به نو تاسو ته د سياست اهميت ښه پوره معلوم شوی وي...

محترمو لوستونکو! د اسلامي شريعت د مصدر (قرآن عظيم الشان) ساتنه الله ﷻ په خپله کوي او موږ ته هيڅ اړتيا هم نلري...

نه اسلام، نه قرآن او نه جهاد تر قيامته پورې ورک کيږي؛ که موږ په کې برخه واخلو او که نه، زموږ شتون او نشتون د الله ﷻ قانون ته هيڅ ګټه يا زيان نشي رسولای...

خو موږ ورته اړتيا لرو... په دنيا کې د با وجدانه او پاک ژوند کولو لپاره او په اخرت کې د دې پوښتني د جواب لپاره چې: ايا تا د اسلام لپاره يو څه کړي...؟

راشئ چې د اسلام د سرلوړۍ او بقا لپاره يو ځل بيا خپل سرونه نظرانه کړو، او د نړۍ کفارو ته په هر ډګر کې د اسلام تير زرين تاريخ وريا د او تازه کړو...

د لاندې مقالو تر لوستلو وروسته به تاسو په اسلامي سياست او دجالي فتنو ښه سم پوه شئ...

## ۲ . وېښ شه ...

که ته دا فکر کوې چې ته به یوازې په کلیمه، لمانځه، روژه ، زکات، حج او ذکر کولو سره جنت ته ځې نو ته بلکل غلط یې، یا که ووایم ته هغه مسلمان (کوڼ،ړوند اوګونګې) یې چې غربي نړیه یې غواړي او غربیان له دې ډول مسلمانانو سره هیڅ ستونزه نه لري...

څکه غربیانو په تا د اقتصادي نظام لپاره کپتالیزم یا سوسیالیزم منلی. په سیاسي لحاظ یې دېموکراسي او د حاکمیت لپاره یې سیکولریزم درباندې منلې ، او همدارنګه د اخلاقو او فکر په لحاظ لیبرالزم او یا هیومنیزم درباندې منلی، که ته دا پېژنې هم نه خو دوی په تا دا هر څه منلي...

خو که ته د اسلام دعوه کوې نو په والله ستا څخه به ستا د فکر، وجدان، اهل او هر هغه څه په اړه پوښتنه وشي چې ستا په واک کې دي، که تا دا هر څه د کفر په خلاف کار کړي وي نو ته کامیابه مؤمین یې او ته هغه مسلمانان یې چې غرب تل ځیني په ویره کې دی...

نو راشه فکر وکړه چې تا د اسلام لپاره څه کړي، په اسلامي سیاست، حاکمیت، اقتصاد او اخلاقو خبر یې...؟ د کفري دسیسو په اړه معلومات لرې...؟ ایا په ټوله نړیه کې د مسلمانانو له حاله خبر یې، په چین، هند، فرانسه، فلسطین، برما... کې په لړکیو مسلمانانو د ظلمونو څخه خبر یې هغه ظلمونه چې انسان یې احساس هم نشي کولای، په امریکا، یوروپ او نورو غربې ملکونو کې د نوو مسلمان شوو مؤمنانو له کړاوونو خبر یې...؟... او که نا تا د غرب په جوړ شوي مکتب یا پوهنتون کې د بشر د حقوقو (مساوات) تر عنوان لاندې خپل تعلیم کړی چیري چې داسي معلومیږي چې هر څه سم دي.... خو "نه" هیڅ هم ندي سم.

قدرمنو لوستونکو: هغه اسلامي هیوادونه چې اوس پکې سرتاسري امنیت دی او کفار پکې نوره مداخله نه کوي زما په نظر هغه هیوادونه دي چې غرب خپل اهداف پکې پلي کړي او له زیاتو خلکو څخه یې وجدانونه او خپل رسمونه هیر کړي او په زیاته کچه یې له اسلامه لیري او غربې کړي دي، د ښځو بې حجابي او بې حیايي یې عامه کړې، او خلک یې دومره د تعصب او جهل څخه ډک کړي چې سپین او اسلامي نظام ورته د پرمختګ ضد ښکاري، ازادي د غلامۍ په شکل او ارامي د جګړې په شکل ورته ښکاري (افغانستان...) او یا د غرب غلامان او د هغوی په اشاره ښوربېدونکي ګوډاګیان هیوادونه دي (عربستان...)

## ۳. کفري دسیسې...

کفري دسیسې هغه چې په ظاهره ریښې او جلبوونکې او په باطن کې تور رنګ لري؛ الله ﷻ په قران عظیم الشان کې فرمایي: هیڅ کافر د مسلمان دوست او خواخوږی نشي جوړېدلای.

کفار تل زموږ دښمنان دي خو دوی هر وخت لباس بدلوي (کله دوست، کله ملګري او چې وخت پیدا کړي نو خپله دښمني او تعصب ښکاره کړي)

کفار د اسلامي نظام او وجدان لرونکو مسلمانانو د ورک کولو لپاره له زرګونو لارو څخه کار اخلي خو دلته به یې زه له هغو یادونه وکړم چې ډیرې عامې دي...

۱- د اسلامي هیوادونو د واک چارې د غرب اجنټانو ته په لاس ورکوي؛ تاریخ او شخصیتونه وګورئ چې دوی د غرب لپاره څه څه وکړه (له امان الله څخه بیا تر اشرف غني پورې او یا د عربو مشران در واخله، استثنا په کې شته) په دې سره ربښتني اتلان ترهګر او دهشتګر بولي بلخوا بیا خبیث اشخاص په غازیانو، قهرمانانو او اتلانو معریفي کوي...

۲- د اسلامي هیوادونو په سیاسي، اقتصادي، تعلیمي او د ژوند نور میدانونو کې د اسلامي امت د نوي نسل د بې لارې کولو هڅه کوي؛ تر څو تول عمر دوی ته محتاج پاتې شي.

(موږ وینو چې د ټولې اسلامي نړۍ تعلیمي نصاب، اقتصادي نظام او سیاست د غرب په لاس کې دی او په دې ډګر کې یې خوارا پر مختلک کړی، موږ یې خپل په هیواد کې بې حسابه مثالونه لرو چې زموږ ځوان نسل یې د تعلیم تر نامه لاندې په فحشا او ډمتوب اخته کړی او خپل مقصد اصلي یې ځینې هیر کړی.

په مکتب او پوهنتون کې په زیاته اندازه غربي فکر او تمدن تدریس کیږي، او دوی داسې ښه یې چې شاګردانو ته ربښتنی تعلیم ورکوي.. (د تعلیمي سیستم په هکله لیکنه لاندې شته)...

۳- د اسلام او سیاست د بیلتون لارې جوړوي؛ چې دا یو تیره خنجر د اسلامي امت پر سینه دی شاید تاسو د جبار قهرمان هغه خبرې اوریدلې وي چې ویل یې: آی مولوي صاحب! ته سیاست څه کوي، تاته خو پنځه وخته خلک د لمانځه حاضري در کوي ته خو خپل امامت کوه؛ څونه په ځیرکتیا یې دین او سیاست سره بیل کړه... (په اسلام کې د سیاست په ارزښت لوږ ږغیدلي یو)...

۴- د فحاشي او عیاشي عامول ؛ د ازادۍ، مساوات ، او ماډرنیزم په نوم د ښځو بربنډ ول د ښځو زده کړو او حقوقو ته هوا ورکول تر څوغربي، ملحدي او بې وجدانه ښځې پیدا کړي.

د مسلمانانو ستر فاتح او د صلیبیانو ملا ماتونکي مجاهد سلطان صلاح الدین ایوبي به ویل: یوه عادي ښځه هیڅاته هم زیان نشي رسولای، خو یوه جاسوسه، د کفارو له خوا روزل شوې او تخریب کاره ښځه په یوازې ځان د یوه هیواد بیړۍ ډوبولای شي.

غربیانو په تیر شل کلن اشغال کې بیخې په زیاته اندازه تخریب کاره او بې حیا ښځې زموږ په ګران هیواد کې پیدا کړې؛ او د غربیانو د وتلو په ورځ یې ډیرو زیاتو خپل ځانونه او خاندانونه وشرمول، د کفارو په غېږه ورتر غاړې وتلې او غرب ته له ځان سره د بیولو خواستونه یې ورته کول؛ په هغه ورځ د غربي شل کلن حکومت د فکري جګړې پایلې ښه په ښکاره په ډاګه شوې.

( د اسلام مرکزونو لپاره د دجال دام برخې کې به یې په اړه ښه سم پوه شئ چې ولې غرب ته د یوه اسلامي هیواد ښځې دومره ارزښت لري )

نن یې موږ په سترګو وینو په کابل کې د غرب د سپرمونو ریړندو حجاب زندان وباله او اور یې ورته واچاوه؛ په ټیک ټاک او نورو ټولنیزو رسنیو کې چې کومې د بې وجدانه خاندان ښځې تاسو وینې او همدا رنګه اوس چې په ښارونو کې ځینو په نوم د حجاب توري تنګې چادرې اغوستې وي دا ټوله فحاش او غرب پلوه خاندان څخه دي؛ د ازادۍ اومساوات په نوم نه پوهیږم چې دا ښځې به کوم کوم کارونه وکړي..( په دې اړه لاندې مقاله شته فیمنیزم)

بلخوا د ځینو نارینه وو څخه یې داسې وجدان اخیستی چې ګوته په غاښ به پاتې شې دا د ښځو بې حیایي ده چې له نارینه وو څخه یې غیرت او وجدان دواړه اخیستي چې دا چاره د ټولنیزو رسنیو له لارې کوي ، په دې سره موږ بوخت هم ساتي او دا را په زړه کوي چې موږ هر څه وینو خو په حقیقت کې موږ له حقیقت څخه ډیر لیرې کوي، او هغه څه را باندې وینې چې د دوی خوښه وي تر څو دوی دنیا خپل د خوښې سره سم کنټرول کړي.

د ښځو د حقوقو چیغې هغه خلک وهي چې تر پرونه یې ښځه انسانه نه بلل؛ تاسو د دوی تاریخ مطالعه کړې او تاسو دې ته هم فکر وکړئ چې په ټوله کفري نړۍ کې د نوو مسلمانو په لیست کې ښځې لومړي مقام لري؛ ولې...؟

ځکه ښځو ته مکمل حق اسلام ورکړی؛ خو افسوس چې دوی ته په غربي مکتب کې دا نه ویل کیږي؛ دوی ته یوازې ماډرنیزم زده کوي او دا زموږ د نصاب ستونزه هم ده...

۵- موسسات چې غرب یې د دې لپاره په اسلامي هیوادونو کې روان ساتي تر څو د عوامو ذهنونو ته دا واچوي چې کفار زموږ دښمنان نه دي او په دې ډول مو فکر بل خواته اړه وي او ولس ځانته مسخر کوي ،موږ ناخبره ساتي او خپل خبیث پلانونه تطبیقوي...

۶ – د بې وجدانو، منافقو او اجنبیو اجیرانو په وسیله د اسلامي نظام بدنامول کوي؛ او د علمأ سؤ (علمأ غران) په مرسته اسلام بل ډول معریفي کوي...

۷ – د غربي کلتور د رواجولو او د اسلامي ټولنې د بربادولو لپاره د هالیوډ او بالیوډ فلمونه ته د ځوانانو هڅونه ؛ د یو بې معنا او بشپړ جعلي فلم د راتلو لپاره په رسنیو کې تر حد زیات کمپاین کوي... ( د دې موضوع په اړه لاندي مقاله شته )

قدرمندو لوستونکو! باید پام او باور مو وي چې غربیان او ورسره اجنتان یې هیڅکله هم یوه اسلامي هیواد ته ربښتنې نه پاتي کیږي.

دوی چې هر څه د خپلو موسساتو او خواکونو په واسطه کوي خامخا یې یوه دسیسه او پلان پکې نغښتی وي، او تل کوښښ کوي چې د هغه خلکو او کتابونو مخه ونیسي چې د دوی خبیث پلانونه او دسایس خلکو ته په ډاګه کوي چې په تیر امریکایي رژیم کې یې د استاد عبدالهادي مجاهد پر ( فکري پوهنه) کتاب او ډیرو نورو کتابونو او علماوو بندیز ښکاره مثال دی....

تاریخ ثابته کړې چې غربي نړۍ هڅه کړې چې اسلامي هیوادونه تر خپل واک لاندي راولي او دوی په اساني سره خپلي خبیثي مفکورې او پلیته ډیموکراسي باندي وتپي...

راشئ چې د دوی دسیسې و پیژنو او له خبیثو مفکرو او پلانونو څخه یې په امن پاتي شو...

# ۴. امریکا څه ډول اسلام غواړي...

د مسلمانانو د ځوان نسل د ویښتابه سر لاري ستر سیاسي مبارز سعید سید قطب رحمه الله په ویل:

غربیان امریکایي اسلام غواړي؛ هغه چې د اوداسه په نواقضو فتوا ورکړي؛ مګر د مسلمانانو د عقیدي په نواقضو، سیاسي ،اجتماعي او اقتصادي حالتونو باندي هیڅ خبره هم ونه کړي؛ دا ډیره دردناکه خبره ده...

په اوس وخت کي په نړۍ کي دوه ډوله اسلام وجود لري، یو هغه اسلام دی چي الله ﷻ پر حضرت محمد ﷺ نازل کړی او هغه خپل امت ته په مکمل ډول رسولی دی او د اسلامي امت د تاریخ په اوږدو کي مسلمانانو منلی او هم یې په خپل فردي او اجتماعي ژوند کي تطبیق کړی دی او همدا ډول یې له هغه څخه د دفاع په لار کي په میلیونونو سرونه قربان کړي دي...

د الهي اسلام په مقابل کي یو بل ډول اسلام هغه دی چي غرب او په سر کي امریکا د هغه د معرفي کولو، خپرولو او تطبیق کولو لپاره کار کوي او خپل ټول مادي او معنوي وسائل په کار اچوي ترڅو په اسلامي نړۍ کي همدغه (امریکایي اسلام) د (الهي اسلام) پر ځای د مسلمانانو په ژوند کي ځای ونیسي...

د امریکایي اسلام د معرفي کولو لپاره د امریکا تر ټولو مهمي او تحقیقاتي اداري (رنډ کارپوریشن) چي په امریکا کي د امریکا نظام ته له امریکا څخه د دفاع لپاره د تحقیقاتو، مشورو ورکولو او ستراتیژکو مطالعاتو لوی او مهم مرکز دی، د همدغي اداري یوې ډلې مستشرقینو چي (چیریل بینارډ) یې مشري کوي یوه طرحه وړاندي کړې ده.

چیریل بینارډ چي په خپله یهودۍ او د افغاني الاصله امریکایي (زلمي خلیلزاد) ښځه ده، دغه طرحه یې د (Civil democratic Islam Partners Resources and strategies)

یعني (متمدن، ډیموکراتیک اسلام، ملګري، منابع او ستراتیژي) په نامه په درې اتیا صفحو کي ترتیب کړې چي د خلیل زاد ترڅنګ نهو نفرو نورو څېړونکو هم ورسره مرسته کړې ده...

## ۵. د امریکایي اسلام تعریف...

هغه اسلام چې امریکا يې غواړي چيريل بينارډ(لوړ معريفي شوې ) يې په دې ډول تعريفوي:

(امريکا ، نوې صنعتي نړۍ او په مجموع کي بين المللي ټولنه داسي يو اسلام غواړي چي د نوري نړۍ له نظامونو سره پر يوه لار روان شي، ډيموکراتيک او مترقي اسلام وي او پر نړيوالو قوانينو، احکامو او اخلاقو وچليږي) د بينارډ د کتاب اتمه صفحه

په ياد شوي تعريف کي لاندي نقطې مشخصې شوي دي:

۱- اسلام بايد د امريکا او بين المللي ټولنې په خوښه وي.

۲- اسلام بايد يو بېل تشخص او ځانګړی نظام ونه لري، بلکه د نورې نړۍ له نظامونو سره دي يو شوی وي.

۳- اسلام دي ډيموکراتيک وي يعني د خلکو لخوا دي رامنځته شي، نه دا چي د (وحې) پر بنسټ دي ولاړ وي.

۴- اسلام دي خپل زوړ شکل پرې ايښی وي او نوی مترقي شکل دي يې غوره کړی وي.

۵- دغه اسلام دي په احکامو او اخلاقي فلسفه کي د غرب له احکامو او اخلاقو سره يو ډول وي.

چيريل بينارډ وروسته په همدې صفحه کي د دغه اسلام د منونکو د ملاتړ او تشويق په هکله ليکي:

(دا به د حکمت کار وي چي په مسلمانانو کي د هغو عناصرو ملاتړ او تشويق وشي چي له (نړيوالي سولي) او (بين المللي ټولنې) سره يو ځای پر لاره ځي ډيموکراسي او تمدن خپلوي)

په پورتنۍ جمله کې اغلې په ډاګه وايې چې اسلام بايد په ډيموکراسۍ بدل شي او او بايد يو نوی غربي تمدن خپل کړي، د هغو خلکو ملاتړ بايد وشي چې د امريکا او غربيانو غلامي قبلوي...

ليکواله د مسلمانانو او کفارو ترمنځ د بېلوالي عامل د دغو دوو امتونو ترمنځ د غرب له فرهنګ ځخه چي هغه يې (نړيوال فرهنګ) بولي د مسلمانانو ليري والی ښيې او ليکي:

«له نړيوال معاصر فرهنګ څخه د مسلمانانو لېږي والي د هغوى او د نورو ترمنځ د کړکېچ زمينه برابره کړې ده»

د پورتني عبارت معنا داده چې د مسلمانانو او نورو ترمنځ به تر هغه وخته کړکېچ دوام لري ترڅو چې مسلمانانو خپل اسلامي فرهنګ پرې ايښى نه وي او نړيوال کفري فرهنګ يې خپل کړى نه وي او هر کله چې د فرهنګ دغه توپير له منځه ولاړ شي، نو کړکېچ (جګړه) به خپله له منځه ځي ...

دا کتې مټ هم هغه مفهوم دي چې الله جل جلاله يې په قرآن کريم کي داسي يادونه کړې ده:

«يهود او نصارا به تر هغه له تا څخه راضي نشي ترڅو چې د دوئ ملت ونه منې»

او دا ښکاره خبره ده چې نننى «نړيوال نظام» او «نړيوال فرهنګ» يهودانو ايجاد او ډيزاين کړي او نصارايې چې برتانيه او امريکا يې په سر کي دي په ټولې نړۍ تطبيقوي او د همدغه نړيوال فرهنګ د عملي کولو لپاره يې ټوله اسلامي نړۍ د جنګ ګرم ميدان ګرځولې ده.

ترڅو خپل نوى (امريکايې اسلام) ورکښې عملي کړي.

ماخذ: فکري پوهنه (استاد عبدالهادي مجاهد)

قدرمنو لوستونکو: له بده مرغه دا به ووايم چې د الهي اسلام پرځاى د امريکايې اسلام په خپرولو کي د دجال لښکري بريالي شوي، څکه دوى داسې خلک ډير وروزل چې د مسلمانانو په جامه د مسلمانانو د پرمختګ په پلمه د امريکايې اسلام خپرول کوي.

په عربو او عجمو کې يې داسې ملايان پيدا کړل چې د الهي اسلام تفسير د امريکايانو په خوښه کوي د جهاد پر الفاظو يې خوله ګونګى وي او د اسلامي اخوت پر ځاى د انساني اخوت خبري کوي...

راشئ چې الهي اسلام هغه چې زموږ د اسلافو څخه را پاتي دى په ځانونو باندي عملي کړو، هغه اسلام چې کفارو ته مطلق د اسلام دښمنان ويل کيږي.

## ۶. په عموم کې غربیان څه غواړي...

(دا مقاله مې باید د کتاب پای کې را وړې وای تر څو تاسو ته ښه ثابته شوې وای ، په دوهم ایډیشن کې ان شاء الله همداسې کوم تاسو یې بیا وروسته مطالعه کړئ...)

په عموم کې غربیان او ورسره اجنتیان یې غواړي چې د ټولې نړۍ واک د یو څو مخصوصه تنظیمونو لکه ایلیومنیاتي او فریمیسن (لاندې یې په هکله معلومات شته) په لاس کې وي

تر څو هغوی مسیح دجال ته لاره ښه هواره کړي او دوی نور خلک د ډیموکراسۍ، ازادۍ ، مساواتو او زرګونو نورو شعارونو په وسیله مصروفه کړي.

د دې پلان د عملي کولو لپاره اوس عموماً عصري علوم ډیر بهانه کوي غواړي چې د ساینس او ټکنالوژي په فکر کې مو دومره ډوب کړي چې خپل مقصد اصلي (د الله ﷻ او د هغه د رسول لاره) را څخه هیر کړي او هر وخت چیغې وهې چې دا د ټکنالوژي عصر دی، خو اصلاً دوی نه موږ ته ټکنالوژي رازده کوي او نه هم زموږ په پرمختګ او پوهه خوشحالیږي.

راشئ دلته یو څو هغه کارونه درته په ګوته کړم چې غربي ټولنه یې په ټوله نړۍ کې عاموول غواړي او هدف یې د مسلمانانو د ځوان نسل مشکوک ، او بې حیا کول دي، دلته به هغه کارونه او تاریخچه یې وګورو...

۱- ډیر کلونه مخکې په غربي ټولنو کې په نڅا ، ډول ډول اوازونو او د ځانګړي اندامونو په غټولو باندې ډیر تمرکز کېدی او دا چاره یې تر ډیره اسلامي هیوادونو په خاصه توګه عربو ته هم وغزول خو راشئ دا یو څه شاته کړو.

په ۱۷۸۹م کال کې د افریکا په یوه خواره او غلامه کورنۍ کې د سارا بارتمن په نوم یوه جینۍ وزیږیده چې د هغې د جنتیکي بینظمیو له امله د هغې څو مخصوصه اندامونه ډیر غټیدل کله چې اروپایې تجارانو هغه ولیدل نو هغه یې له ځانه سره اروپا ته بوتله او هلته یې د حیوانانو سره یو ځای ننداري ته وړاندې کړه هغه یې په زور او جبر سره مجبوروله چې د خلکو مخکې نڅا او ډول ډول اوازونه وکړي.

هغه خواره جیـــنی یې انسانه نه بلل دا چې ان د هـغې د مړنـي وروسته یې هم هغه ټوک ټوک کړه او هر غـړی یې جلا جلا مـوزیم کې د ننداري لپاره کیښو دی.

په هرحال اوس راشه زموږ د اسـلامي هیـوادونو ډمانو ته چې هر یو یې په خـپل په خوښـه دا کار کوي ، او دا ماډرنیـزم بولي ؛ له لوړ تاریـخ څخه به تاسـو د اروپایانو ماډرنـیزم هم ثابت شوی وي چې د انســانانو باغ وحـش یې هم جوړ کړي وو...

۲- له هـغه وروستـه بیا د بربنډو فلمونو او نایټ کلبونو بازار ګـرم وو؛ خو تاسو به شاید د هغو خلکو مـرکې نه وي اوریدلي چې په دې فلـمونو کې کار کوي...

د دا ډول فلـمونو جوړونکي وایې چې زیاتـره کارکونکي یې له یو فلـم جوړولو وروسته استعـفا ورکوي یا ځان وژنه کـوي او یا ټول عمـر بیا له ذهني فشار او رواني ناروغیو کړیږي...

دا کار ډیر ژر وو چې مخ په ورکیـدو شي خو د ایلیـومنیاتي او فریمیـسن ټولنو لـخوا نوو اداکارانو ته دومره پیـسي ورکول کیږي چې تاسو یې فکـر هم نشی کولای څکه تر څو ټوله نـړی بې لاري کړي.

۳- وروسـتـه بیا د همجنـس بازۍ او مطلـقې ازادۍ بازار ګرم وو، انســان ته یې د ډیموکراسۍ په نوم دومره ازادي ورکړه چې دا یـې خوښه وه چې له هر چا سـره یې زړه وي ژونـد کولای شي، ښځه له ښځـې، سپي ،آس، چوکې دیوال ، بسـتره ، ډیري له هر څه سره د واده کولو حق لري او هم دا رنګه نارینـه هم؛ د ډیموکراسۍ ازادي یې له حیـوانیت هم سیوا کړه او دوي له ژونـده مســخره جوړه کړه؛ او که تـاسو د همجنـسابازانو د انسانیت مقدار معلومول غواړۍ نو تاسو ته یوازي دومره وایم چې د دوی حیوانیـت هم د حیوانیت له اندازي پورته دی.

۴- او په دې ورستـیو کې بیا د جنس بدلولو بازار ګرم دی تر ټولو مشـهوره څـهره الی ننډن وو چې خپل جنـس یې یو ځل ښځیـنه ته بدل کړ او له پښیـمانتـیا وروسته یې بیـرته له ځـانه نارینه جوړ کړ؛ تاسو د هغه مرکه واورئ هغه بیـخې زیات پښیـمان وو هغه وویل دا فکر موږ ته په مکتـب کې پیـچکاری شوی وو او هغه ټولې نړۍ او انســانیت ته دا یو ستـر ګواښ وباله.

۵- د ټولنیزو رسنیو، فلمونو، سریالونو، موسیقی ،لوبو، ډول ډول فحاشو کتابونو... په نشرولو سره د ټولې نړۍ د ځوان نسل د حقیقت څخه په لیري کولو هڅه کوي.

دجال ته انتظار خلک غواړي چې ټول همداسي ویده پاتي شي او د هیڅ شي په اړه د فکر کولو توان هم ونه لري تر څو دوی ښه په ارامۍ سره خپل کارونه تر سره کړي...

دا یوازي یو څو محدود مثالونه وه او دوی په میلیونونو داسي نور د ملتونو د ویده ساتلو پلانونه هم لري...

دا لوړ موضوعات هغه څه وه چې له عامو کفارو څخه یې هم سکون اخیستی او اوس ګنګس دي خکه خو پکي د ځان وژني ګراف لوړ دی.

قدرمندو لوستونکو! تاسو به فکر کوئ چې دا هر څه خو زموږ لپاره نه دي، او نه هم دا پر موږ تاثیر کولای شي؛ خو داسي نه ده تاسو غلط یې. غربیان دا هر څه زموږ لپاره تیاروي او کرار کرار مو په مغزو کې د ماډرنیزم، ازادۍ ، مساوات، لوبو او خوشحالۍ په نوم حیوانیت ته بیایي؛ نو ویښ و اوسه ځکه یوه شیبه سترګي پټول دي هم له حقیقت څخه لیري کوي؛ کنه د ماډرنیزم او ټکنالوژۍ د عصر په نوم به دي د حیوانیت او جهالت عصر ته بوزي...

د مسلمانانو ویاړ ستر فاتح سلطان صلاح الدین ایوبي رحمه الله به ویل:

مسلمانو ته باید ځرګنده وي، چې د غربیانو په تمدن کي دومره بې حیایې ده چې ډیره زړه وړونکې ده، او ملتونه د هغوی په تمدن کې ډیر ژر ډوبیږي، په هغوی کې شراب روا دي، د ښځو له پردیو سره نخیدل او یوازي اوسیدل روا دي.

په دوی کې هر شیطاني کار روا دی زموږ او د هغوئ همدا تر ټولو ستر توپیر دي چې موږ د پاک لمنۍ ساتونکي یو او هغوئ د ناموسونو سوداګر...

پام مو وي چې د غربیانو کلتور او د انساني فطرته لیري اخلاق مو ور جلب نه کړي، په ظاهره د شیطان پیروي ډیره جلبونکې وي خو اصلا به مو د دې دنیا له باطني ارامتیا څخه خلاص کړي او د اخرت په ورځ به مو د محشر په میدان له ذلت سره مخ کړي...

## ۷. د فریمیسن خفیـــــه تنظیم...

فریمیسن لاتینی کلمه ده چې د ازاد معـمار معنا لري ؛ د دې تنظـیم غړي وايي چې دوی د نړۍ د معماری او مثبـتو رویو د کړونو لپاره کار کوي مثـلاً د ښځو حقوق او مساوات، بشـري حقوق، صـحت، تعلیـم او ډیر نور څه خو حقـیقت بیخـي داسي نه دی دوی دا شعـارونه ځکه بدرگه کـوي تر څو خـلک خطا باسي او دوی په ارامه خپل خفیه مقاصـد جاري کړي.

د دې ډلي غړي د نړۍ په سـترو سترو عقـدو باندي مو جود دي او ځانونه تر ټولو ځـیرک انسانان بولي، دا ډله هغه وخت جوړه سوه کله چې موسی علیه السلام خپل قوم د فرعـون د ظلم څخه خلاص کړ او دا ډله هم هلـته موجود وه چې وروسته باغـیان سوه او د موسی علیه السلام دین یې پریـښوی د شیـطان عبادت یې شـروع کړی.

څرنگه چـې د موسی علیه السلام قوم زیات وخت د مصـریانو سره تیـر کړی وو نو د هغو څخه یې جادو هم زده کړی وه، چې تر ټولو خطـرناکه جادو یې قیـباله جادو وو او دا جادو له نن څـخه ۳۰۰۰ کاله پخوا لاختم شوی وه، خو د دوی سـره تر اوسه د دې جادو په هـکله معلومات شته.

علماءوو لیـکلي : د قیـباله جادو په وسـیله هر نامـمکنه کار ممـکن کیـدای شي او ددې په وسـیله مخـامخ د شیـطان سـره خبری کیږي...

او دا هغـه ډله ده کومو چـې د عیسی علیه السلام د وژلو کوښـښ کـوی چې د عیسویـانو او یهـودیـانو ترمـنځ د دښـمنی سبـب شوه.

دې ډلي په لومړیو کې خپـل کارونه پټ کول خو په دې وروسـتیو کې یې په ښـکاره ډول خپـل کارونه شـروع کړه، او اوس چې د نړۍ زیات کنـټرول د دوی په لاس کـې دی خپـل تعلـیمي مرکزونه لري.

دوی د بنکیـنټ په زریعه د نړۍ ټوله سرمـایه په خپل لاس کې واخیـسته ؛ د بنکیـنټ په رواجولو سره یې د نړۍ ټول سـره او سپین زر خپـل ځان ته کش کړه او د هوسـاینې په پلـمه یې کاغذي نوټونه په خلکـو وویشـل ؛ د نړیوال بنـک په جـوړولو سره یې د ټولـي نړۍ اقتـصاد په خپل لاس کې واخـیست.

د دې ډلې اصـلي مقـصد په ټوله نړۍ کې یو واحد نظام رامنـځته کول دي تر څو واک یې د دوی په لاس کـې وي، د نړۍ په اقتـصاد تر واک وروسته اوس تقـریبا دوی خـپل دې مقـصد ته رسیـدلي دي، په دې ډول دوی د یوې سـترګې طاقت ( دجـال ) ته لاره هـواروي او دوی متـیقین دي چې هغه به له دوی سـره د ټولې نړۍ په نـیولو او اداره کولو کې مرستـه کوي.

په اوس وخـت کې ددوي مرکـزونه په امریکا، جرمنـي او انګلیـنډ کې دي؛ او د غـربي نړۍ ټول مشـران د دې تنظـیم غړي یا غـلامان دي.

د نړیوال بانـک، موسېـساتو، ملل متـحد او د زیاتو هیوادونو مشران د دوي لخوا انتخابېږي؛ او لکه څرنګه چې مو په پورته مقـاله کې یادونه کړې وه دوی د نوري نړۍ د خلـکو د ویده ساتلو لپاره له ډول ډول وسـیلو څخه کار اخلي چې په راس کې یې رسنـۍ دي، لوبې، فلمونه او د ځوان نسـل د بې لارې کولو لپاره ډول ډول وسـایل په کار اچوي او هغه څوک چې د دوی په خـلاف درېږي نو دوی یې په هغه دم له مـخې لیرې کوي چې ښـکاره مثال یې د امریـکا د پخواني ولسمـشر ابراهم لینـکولن وژنه وه.

دوی چې په راتلونکـې کې د نړۍ لپاره کـوم پلانونه لري هغه یو ځـل د کارټون په بڼـه خلکو ته وړاندې کوي تر څو خـلک دا فکـر وکړي چې علم الغیب هم دوی ته راجـع دی.

د دوی تر ټولو مشـهوره کارتوني سریال سمـسون دي چې د نړۍ وړاندو ینـي پکې کـوي او بیا په خپل ټول توان سره د هغو وړاندوینـو د رښتـیا کولو لپاره هڅه کوي؛ دوی لومړۍ په کارټون کې خپـل پلان وضع کړي او بیا هغه په حقـیقت بدل کړي.

قدرمندو لوستـونکو! موږ ته باید څرګـنده وي چې شیـطاني تنظـیمونه او د دوی دسیـسې اسلام ته هیڅ زیان هم نه شي رسـولای، الله ﷻ د مسـلمانانو او اسلام د بـرم وعده کړې.

اسلام به بریالی کـېږي او دا کفار بـیا د مسـلمانانو د آسونو تر پښو لاندې په خاورو بدلیـږي، خو پر موږ لازمه ده چـې د کفارو په اهدافو او مقاصـدو ځان پوه کړو تر څو د هـغو آسانو واګې زمـوږ په لاس کې راشـي چې کفار یې تر پښـو لاندې خاوري کـېږي دا سعـادت به پر اسـلام د مینو مؤمیـنانو په برخه وي...

## ۸. د ایلومیناتي خفیه تنظیم...

ایلومیناتي لاتیني کلیمه ده چې د رڼا یا د پوهنې د رڼا په معنا ده دا ډله د ځینو په وینا د فریمیسن یوه څانګه ده خو مخینه یې د ادم علیه السلام وخت رسیږي

دا تنظیم هغه وخت جوړ شو کله چې شیطان لعین و بلل شو ځکه خو د دې تنظیم ټول نظریات شیطاني دي او د شیطان په لارښوونو عمل کوي...

ایلومیناتیان وایي چې دوی په داسې علم منور دي چې بل هیڅوک داسې علم نه لري، بعضې خلک د دوی د دې دعوي وجه قبیاله جادو بولي چې بل چاسره نشته

د دې تنظیم غړیتوب خوفناک او ویرونکي شرایط لري د دې تنظیم غړی به د رازونو د ساتلو قسم اخلي، د شیطان خدایی به مني او عبادت به یې کوي، پر شیطان به خپل روح خرڅوي او پر خپل روح به د بشپړې سلطې اجازه ورکوي.

د ژوند په ټولو چارو کې به د شیطان هدایات مني،د دې تنظیم غړي د شیطان لپاره حیوانات او انسانان ذبحه کوي تر څو د شیطان باور او د هغه په مرسته قوت تر لاسه کړي.

دوی د نړۍ ټول بنکونه، مطبوعات او د نړۍ بشپړ صحي او تعلیمي برخې کنټرولوي.

د ښځو حقوق،د بشر حقوق، معماري، صبر، برداشت، امن، انساني اخوت، انسانیت له مذهب پورته دی، ساینسي ترقي، انساني ارتقا، تهذیب، ثقافت، موسسات، ملل متحد او داسې نور اصطلاحات د دوی تر ټولو خطرناکې او تسخیرونکې اسلحې دي...

دوی خپل کتاب هم لري او دوی وایې په مقدسو کتابونو کې چې کوم خلک شیطانان نومول شوي همدا خلک د نهایت ډیر احترام قابل دي.

د دوی اصلي هدف نړیوال کلیوالتوب دی تر څو ټوله نړۍ یوازې او یوازې د شیطان عبادت وکړي او نور مذاهب له منځه لاړ شي همدا راز مسیح دجال ته چې دوی یې خپل مشربولي لار هوار وي فهشا، عریاني او ډمتوب د ما ډرنیزم په نوم عاموي...

دوی ځـــوانان په نـــښه کوي او د شـــهرت او پیـــسو په ورکولو سره یې له حقـــیقت څـــخه ډیر لیـــري کـــوي... د دوی مشـــهوره نښه د یوې ســـترګې نـــښه ده.

قدرمنو لوستـــونکو! دا نن چې په نړۍ کې بې حیـــایي، عیـــاشي، ډمتـــوب، الحـــاد، جنـــګونه، ګـــډوډي، اختـــلافات، لـــوږه او نور افتـــونه اوج ته رسېدلې ده د هـــمدې تنظیمونو له امـله دي.

دوی تر هر څا اســـلام ته ډیر متـــوجه دي نو ځکه یې تر ټولو ډیر کوښـــښ په اســـلامي مـــمالکو کې د عـــیاشی، فهـــاشی او اختـــلافاتو پر عامـــولو دی، چې په افـــسوس سره تقریبـــا کامیاب هم دي، (د دې هر څـــه په اړه جلا مـــقاله شته هیله لرم در سره مطالـــعه یې کړئ)

شایـــد ستاسو ذهن ته دا سوال درشي چې که دا تنظیـــمونه خفیـــه وي او په ریښتیـــا هم وي نو ولې خپل علامـــات او ثبـــوتوه خلکو ته ښکاره کوي...؟

دا دوه لامله لري؛ لومړی د شیـــطان پرســـتی رواج ول په ټولنـــه کې، دوی پوهیږي که خپل نښې هر ځای کې ښکاره کړي نو خلک به دومـــره ورسره عادي شي چې بیا به یې ګوابښ ته هـــیڅ پام ونه کړي، او دا د خـــلکو د وربـــللو لپاره دي تر څو خلک په پوره پوهي او یا نوپوهی سره په کې ګډون وکړي، او متـــا سفانه وینـــو چې زموږ ډیر ځوانان په ناپوهـــی سره د دوی له نـــښو څخه کار اخلي، او په دا ډول په داسـي توګه چـــې خبـــر هم نه وي شـــیطان پرستي کوي...

دوهم شیـــطان غواړي چې تاسو د خـــپلو ګناهونو مســـولیت په خـــپله په غاړه واخلئ، مثلا نـــن داسي ډیر څه شتـــه چې خلک پرې پوهـــیږي چې دا شیطاني نښـــي او یا کـــړني دي خو بیـــا یې هم کوي، په دا ډول شیـــطان غواړي چې په تاســـو داسې ګناه وکـړي چې تاسو پرې پوهـــیږی چې ګناه ده خو بیا یې هم وکړې ځـــکه داسې ګـــناه د الله ﷻ په وړاندي د جګړې اعلان دی.

نو شیـــطان په تاسو ته خپلي نـــښي ښکاره کوي او بیا له تاسو غواړي چې له هغو نـــښو کار واخلی.

نو راشئ چې شیـــطاني او دجالي نـــښي وپیژنو تر څو خـــدای نکرده په ناپـــوهی کې هـــم د شیطان د نـــښو په کارولو سره د شیـــطان اطاعت کونـــکي ونه اوسو...

## ۹. فکري جګړه...

فکري جګړه هغه جګړه ده چې کفار ئې د مسلمانانو د تسخیرولو او د هغوی د شریعت، عقیدې، فکر، عنعناتو، اخلاقو او د ژوند د اسلامي بنې د له منځه وړلو لپاره د نا پوځي وسائلو له لارې د دې لپاره پر مخ بیایي چې مسلمانان له خپل ځانګړي پېژند ګلوی څخه محروم او په هر څه کې ئې د غرب په تقلید اخته کړي؛ تر څو د کفارو په خلاف د جګړې تصور هم په ذهن کې ونه لري.

د ملتونو د دائمي تسخیرولو او د هغوئ د هیوادونو پرته له جګړې د نیولو لپاره فکري جګړه تر عسکري جګړې ډیره موثره ده؛ که فکر وکړو غربیانو تر عسکري جګړې په څو چنده واري فکري جګړې ته ډیره پانګونه کړې، دوی د عسکري جګړې لپاره یوازې له څلورو پنځو موسسو څخه کار اخیستی لکه د امریکا پوځ، ناټو، ایساف، امنیتي قواوې او جاسوسي ادارې خو د فکري جګړې لپاره بیا امریکا او ملګرو ئې تقریبا څلور زره ناپوځي موسسات په کار اچولي چې د مسلمانانو د ژوند په دیني، سیاسي، اجتماعي، کلتوري، رواني، تعلیمي، اقتصادي او نورو بیلا بیلو اړخونو کې په مسلسل ډول کار کوي.

غربیان په عسکري جګړو کې یوازې د مسلمانانو زیرمې غلا کولې، کورونه یې ورانول، خلک یې وژل، او په ښکاره ډول یې مسلمانان له خپل دین نه راګرځول چې په نتیجه کې یې د مسلمانانو په زړونو کې د دوي په خلاف کرکه نور هم زیاتیده او په خپل دین به نور هم ټینګیدل، د مقاومت لپاره به تیار کیده که څه هم چې جګړې به پیړیو پیړیو اوږده شوه.

وروسته غربیانو یوه نوې لاره وموندل فکري جګړه؛ په دې جګړه کې دوي د مسلمانانو د ځوان نسل د حوصلې پر ډیریدو کار پیل کړ؛ کرار کرار یې د دوي په فکرو کې هره ناروا او حرامه کړنه عادي کړه او د ډول ډول شعارونو لاندې یې د اسلام حدود له منځه یوړه مثلاً اوس ډیر داسې څه شته چې دا نسل ډیره پروا نه په لري خو که دا کارونه د پخوانیو مسلمانانو په وړاندې کیدلای د هغو وجدان او ایمان هیڅري هم نه منل.

د غرب په فکري جګړه کې مسلمانان د غرب په زهرجن فرهنګ ولړل، په مسلمانانو کې یې الحادي نظریات، بې دینه فرهنګ او لویدلي اخلاق خپاره کړ.

نوی نسل یې له اسلامي مفاهیمو سره داسې نا اشنا کړ چې د اسلام شریعت ، عقاید ، تاریخ ، تمدن او هر څه ورته پردي ښکاري ، او په هر څه کې د غرب په فلسفه او معیارونو باندې باور لري او تقلید یې کوي .

دغه نسل چې د فکري جګړې ښکار شوی د دوي وجدان او ضمیر ته یې داسې ماته ورکړې چې د غرب هر څه ورته صحیح ښکارې او د هغه خپلول ترقي او تمدن ګڼې.

د فکري جګړې په نتیجه کې یې په اسلامي هېوادونو کې داسې نسل رامنځته کړ او هغوي ته یې د حکومتونو د چارواګي یې ور وسپارلې چې د غرب د استعمار ښه ځای ناستي ثابت شول .

د دغه نسل افکار ، نظریات ، د ژوند اخلاقي ، اجتماعي، سیاسي او اقتصادي فلسفه یې له مستعمرینو څخه هیڅ فرق نه لري .

او دغه خلک د مسلمانانو پرګنو په ځپلو او تعذیبولو کې تر مستعمرینو هم ډیر سخت زړي او جاهل دي.

د غرب فکري جګړه له ځانه سره ډیر اهداف لري چې څو مشخص یې په لاندې ډول دي...

۱ - په مسلمانانو کې د غرب په خلاف د مقاومت روحیه له منځه وړل.

۲- مسلمانان د اسلام په دین، تمدن او انساني ارزښتونو شکمنول.

۳- غربي ټولنو ته د ربښتني او مکمل اسلام د رسیدو مخنیوی.

۴- د اسلامي ملتونو لپاره جعلي او د پردیو په لاس جوړ شوي قیادتونه رامنځته کول...

قدرمنو لوستونکو: غربیان په فکري جګړه کې داسلام ضد او غیر انساني فکرونه خپروي ، د دې دجګړې سلاح د شك او تردد پیداکول دي په دیني تعلیماتو کې او په اسلامي ټولنه کې دښمني او بې باوري شیندل دي.

ځانونه پرې پوه کړئ تر څو د نیزې غشي یې خدای نخواسته ستاسو په سینو کې و نښلي...

# ۱۰. رواني جګړه...

غربیان د مسلمانانو د تسخیرولو لپاره د فکري جګړې سربېره رواني جګړه هم پر مخ بیايي او دا جګړه د فکري جګړې لپاره لار هواروي او یا دا جګړه د فکري جګړې یوه څانګه ده.

د رواني جګړې رسمي اصطلاح د بریتانیا نظامي مورخ فولر له خوا په کال (۱۹۲۰) کې مطرح شوه فولر وویل: داسې ورځ به راشي چې نظامي جګړه به خپل ځای رواني جګړې ته پرېږدي چې په هغې کې به د توپ او توپک په ځای دخلکو فکر او اراده باندې دکنټرول هڅې کیږي.

د رواني جګړې استفاده د اروپوهني له څانګو څخه په سیاسي، نظامي او اقتصادي برخو کې تعریف کولی شوه.

هیڅ انسان د رواني جګړې له خطر نه په امان نشي پاتی کیدلای مګر دا چې د رواني جګړې په اړه علم او پوهه ونه لري.

رواني جګړه داسې یو خطرناکه جګړه ده چې په سلهاو مرتبې د نظامي جګړې څخه زیانمنه تمامیږي.

د رواني جګړې اثرات سلهاو کلونه عمر ته ضرورت لري تر څو له منځه لاړ شي؛ د رواني جګړې زیانونه ډیر زیات دي خو یو څو به یې د مثال په شکل په لاندي ډول وړاندي کړو.

۱-رواني جګړه ځمکي ته خطر نه رسوي مګر عقل ته کامل زیان رسوي.

۲- محدوده جغرافیه نه نیسي مګر فرهنګ یې له منځه وړي.

۳-ابادي نه ورانوي مګر ثقافت او عقیده تخریبوي.

د رواني جګړې اسباب او وسایل

۱-رسنۍ: رسنۍ دومره قدرت لري چې ځیني کسان یې د حکومت څلورمه قوه بولي او ویل کیږي چې د صدام حسین د حکومت زوال اصلي لامل د امریکا له خوا همدغه رسنیز تبلیغات وه چې په عراق کې یې نشرول.

۲-نوم ایښودنه :(تروریست ،دهشتګر ،خونخوار ...) دا هغه نمونه دي چې په رواني جګړه کې يې په يوه ډله ، ټولنه یا ګروپ باندي تحمیل کوي او هدف يې د خلکو متنفرکول له دې ډلې څخه دي.

مثلا په دویمه نړیواله جګړه کي امریکا په جاپان اټومي بم وکاروه چې په میلونونو بیګناه انسانان يې په کې ووژل خو د حیرانتیا ځای داده چې په امریکا کې په همدغه کال تحقیق وشو او دا ثابته شوه چې ۵ فیصده خلک د امریکا د دولت د دې کار سره مخالف وه نور ټولو ۹۵فیصده خلکو ته داسي په ذهن کي اچول شوې وه چې جاپانیان خونخوار او ذاتا بد دي او باید نور اټومي بمونه هم پرې وکارول شي.

۳- د یوه پیښې تکرارول :د سپتامبر ۱۱ یو عادي تاریخ ده مګر د ټولو انسانانو په ذهن کي هماغه پیښه ترسیم کوي کوم چې خپله امریکا وايي چې اسامه بن لادین په امریکا طیاره وردننه کړه او په زرهاو کسان يې په کې ووژل د دې پیښې تر اوسه رواني جګړه روانه ده

په امریکا کې هر کال په همدې ورځ دا پیښه غندي او نه غواړي چې د امریکا نوی نسل خپل دښمن له یاده وباسي او د نفرت اور ته نور هم پکه وهي.

۴-د تفرقه اچول: د انګلیس د کامیابۍ یو راز همداوه چې مورخینو ترې یوه جمله جوړه کړې (تفرقه بینداز و حکومت کن)

د افغانستان او پاکستان او د پښتنو تر منځ د ډیورند کرښه د د مورخینو په وینا دا یوه سل کلنه کارخانګي ده چې د انګلیس هدف د دوومملکتونه تر منځ جنګ اچول او خپلي ګټي په کي پورته کول دي؛ فرض وکړئ که چیري دا برخه د افغانستان خواته وه نو اوس به افغانستان او بر پښتانه دومره ضعیفه وه ؟

د تفرقي جنګ تر ډیره حده په افغانستان کې نتیجه ورکړې چې موږ يې نتیجه په قومي، مذهبي او فرهنګي جنګونو کي علني وینو.

۵- ډار اچول : رسول الله ﷺ ۱۴۰۰ کاله مخکي کله چې مکه مکرمه فتح کوله د دښمن په منځ کي د ویري د رامنځته کولو له تخنیک نه کار واخیسته کله چې مکې ته نږدې شوه د شپې

يې اصحابو ته امر وکړ چې د غرونو او لړيو ساحو کې اورونه بل کړئ تر څو مشرکينو ته د مسلمانانو تعداد ډير معلوم شي او په زړونو کې يې ويره پيداشي هماغه وه چې د الله ﷻ په نصرت او د حضرت محمد ﷺ د رواني جګړې په تخنيک مکه مکرمه فتح شوه..

۶- شايعه: اتن او اسپارت د پخواني يونان دو ښارونه وه چې جنګي تخنيک يې داوه کله به يې چې په کوم ښار حمله کوله نو مخکې به يې خبرچيان ورليږل او په هغه ښار کې به يې شورماشور جوړوه او عام ولس به يې ډاروه همدا لامل به وه چې کله به هلته ورسيدل نو نيم ښار به تبنتيدلي وه او په ډيره اسانۍ به يې ښار تسخير کړ.

يا د کرونا دوره کې د تور چاي تجارانو له شايعه کار واخيست او دخلکو له وارختايي نه يې استفاده وکړه تور چاي يې دکرونا درمل معرفي کړه هماغه وه چې چاي فروشان ښه مالداران شول.

۷- پره اچول: ادولف هتلر ته به چې هر زيان ور ورسيده نو لامل به يې يوازې يهودان بلل او په ډول ډول بهانو يې له منځه وړل...

قدرمنو لوستونکو! د عسکري، فکري او رواني جګړو ميدان اوس د اسلام دښمنانو پر اسلامي خاورو خوارا ګرم کړی او په خپل ټول توان سره غواړي چې د مسلمانانو راتلونکي نسلونه خپل ځان ته مسخر کړي؛ که څه هم موږ ټول مسلمانان په دې عقيده يو چې بريا به زموږ وي د دوی هر ډول جګړې ته مسلمانان خپل لښکري لري د عسکري جګړې لپاره يې مسلمانانو د فدايانو او غازيانو د جهاد لښکرونه له ځوانانو ډک کړي دي او د فکري جګړې لپاره يې هر وخت په اسلامي امت کې د ويښتابه سرلاري پيدا شوي او د دوی په دسيسو يې خلک پوهولي دي.

خو دا به ډيره غوره وي چې موږ هم د دې غازيانو، فدايانو او سرلارو په قطار کې ځانو ودرو تر څو د محشر په ميدان سر لوړي او بريالي راپورته شو...

## ۱۱ دجال او دجالیت څه دي او څنګه ترې ځان وساتو...

که نن ورځ د مسلمانو ځوانانو، مشرانو، نارینه او ښځینه څخه پوښتنه وکړو چې دجال یعنې څوک؟

نو ۷۰ فیصده یا له دې هم زیات انسانان یې په اړه کافي خو څه معمولي یا عادي معلومات په یاد نه لري؛ نو په خلکو کې به د دجال په اړه پوهاوې څنګه پیدا او عام شي؟

شاید یو څوک ووایي چې دجال کله راوځي؛ دا خو کېدا یشي چې زیات وخت په منځ کې تېر شي، نو بیا څه وجه ده چې په خلکو کې ویره خپروئ؟

دغه اعتراض ډېر خلک کوي، خو حضرت محمد ﷺ ۱۴۰۰ کاله مخکې خپل امت او اصحاب کرام د دجال څخه بېره ولې وه تر څو امت د دې فتنې څخه بې پروا نشي.

راشئ چې لږ شاته لاړ شو او پوه شو چې دجال به کله راځي.

د نړۍ پای یا قیامت زموږ عصر ته ډېر نږدې دی؛ د قیامت د راتلو وخت دوه ډوله علامات لري چې یو یې بعیده دي هغه چې لا له وړاندې یې ظهور شوی او په هغو کې د حضرت محمد ﷺ نبوت ، د سپوږمۍ د دوه ځایه کېدو واقعه، غزاوات او داسې نور

او دوهم ډول یې هغه علامات دي چې قیامت ته به په ډېر نږدې وخت کې ظاهرېږي چې دې ته علامات کبرا ویل کېږي لکه د امام مهدي او حضرت عیسی علیه السلام ظهور، د یاجوج ماجوج خروج ، د دجال ظهور او داسې نور...

په علامات کبرا وو کې تر ټولو ستره او بدترینه فتنه د دجال فتنه ده.

حضرت محمد ﷺ فرمایلي: د حضرت ادم علیه السلام څخه بیا تر قیامته د دجال تر فتنې بله ستره فتنه نشته، هغه به په یوه سترګه مسح شوی وي د ډېر ستر قدرت او واک خاوند به وي د هر ډول مریضیو علاج به ورسره وي او وایي به چې لمر د ده په امر چلیږي د لمر درول به کولای شي او ځان به د ټول کائناتو خدای بلي.

دجال به شیطانان د مړه شویو انسانانو په شکل د خلکو کورونو ته بیا ستانه کړي او خلک به فکر کوي چې زموږ مړي را ژوندي کوي، څناور به ژوندي کولای شي خپل جوړ شوی جهنم او جنت هم لري چې دا هر څه به یوازې د نظر فریب وي.

دجال به پر موسمونو وچکالی او باران هم قادر وي لنډه دا چې د دجال سره به ټول هغه اختیارات وي چې خدایي ګڼل کیدل خو په حقیقت کې به دا ټول دجل او فریب وي.

د دجال دا ستر قدرت او اختیار به ډیر ځیرک خلک هم په شک او تردد کې واچوي ځکه خو د دې فتنې څخه د زیات ویریدو خبره کیږي که څه هم رسول الله ﷺ ټولې هغه علامې ښودلي چې دجال پرې پیژندل کیږي خو بیا تاکید یې په دې ډیر کړی چې د ده تر پیژندلو وروسته به هم خلک د ده د واک، اختیار او ښو کارونو له امله په شک او تردد کې وي او وایې به که دا دجال وي نو دومره ښه کارونه ولې کوي.

دجال به د اوسني مطبوعاتو په مرسته ځان نجات دهنده معریفي کړي او په دې ډول به د خلکو همدردي په مکمل ډول حاصله کړي.

د انسانیت دښمنان به نجات ورکونکي او همدرد به یې دهشتګر معریفي کوي، ځکه خو یې رسول الله ﷺ بار بار یادونه کړې تر څو ښه یې وپیژنو او هیر یې نکړو.

په دې مقاله کې زما هدف د دجال خپله موجودیت نه دی، بلکې دادی چې خلک دجالیت وپیژني، د دجال فتنې وپیژني، دجال خو خپل کار د خپل راتلو مخکې کوي او کړی یې هم دی، که وویل شي چې د دجال ۷۰ فیصده کارونه ترسره شوي یا لګیاه دي ترسره کیږي معقوله خبره به وي او دا پاتې ۳۰ فیصده به هغه د خپل راتلو څخه وروسته ترسره کوي.

اوس مهمه خبره داده چې دجالي فتنې وپیژنو، موږ به یا دجال وو‌ینو یا نه، تر موږ مخکې مسلمانانو هم دجال و نه لیده خو د دجال په اړه ډېر محتاط وه، چې هغه وخت دجالي فتنې د نن ورځې په نسبت بیخي کمې او کمزورې وې، داسې نه چې د دجال د راتلو مخکې موږ د دجال په فتنو کې اخته او په همدې حالت کې راته مرګ راسي...

دجال به په داسې حال کې د خلکو منځ ته راځي چې د هغه د راتلو لپاره به مخکې یهودیانو (فریمیسن، ایلومیناتي) ورته لاره برابره کړې وي.

قدرمندو لوستونکو! اوس نړۍ کې په ډېره زیاته پیمانه د دجال فتنې د خلکو په منځونو کې عامې شوي خلک هر طرف ته د دجال په څنځیرونو (فسبوک، ټیک ټاک، هر ډول ټولنیزي رسنۍ) باندې تړل شوي او په غیر مستقیم ډول د دجال عبادت کوي...

راشئ چې د دجال فتنې او هر هغه څه چې د دجال ته د راتلو د انتظار سازمانونو دسیسې دي ښه په پوره ډول وپیژنو، یوازې د هغو د فتنو په پیژندلو به یې له عبادت او بندګۍ څخه خلاصېږو که یې پیژندلو کې پاتې راشو نو بیا به په ځان هم نه یو خبر او له هر طرف نه به د دجال په دامونو کې را ګیر شوي یو...

پام مو وي چې غربیان د دجال عبادت کونکي او د هغه په قدم قدم اینبودونکي دي د هغوی له انساني فطرته لیرې فرهنګ، کلتور او رواج (موډ، فیشن، ستایل) هیڅکله هم خپل نکړئ، الله ﷻ تاسو له هغوی ډېر عزتمند پیدا کړي یاست او تاسو ته یې هغه لاره نه ده ټاکلې کوم چې د کفارو لپاره ده، د هغوی مشابهت مه کوئ ځکه رسول الله ﷺ فرمایي:

څوک چې د کوم قوم مشابهت کوي نو هغه د هغه قوم څخه دی.

د هغوی د دود او کلتور په خپلولو سره خدای نکرده د قیامت په ورځ د هغوی په قوم کې را ولاړ نشو؛ الله ﷻ دې موږ د کفارو له قوم او ډلې څخه نه کوي...

لاندې مقالو کې به څه د دجال د فتنو او دسیسو په اړه پوه شئ:

## ۱۲. ملګـــري ملـــتونه که د دجـال کور...

ملګـري ملتــونه يا سازمان ملل متــحد تەچې دجالي حکومــت نوم ورکړو، غلط نوم به نه وي

ملګري ملتونه هغه ســازمان دی چې د غربيــانو په وينا د نړيوالي ســولي او امنيت د حفاظت، د هيوادونو تر منځ د دوستــانه روابـطو پراخولو او د هيوادونو سره د هـمکاري په خاطـر د دوهم جـنګ جهـاني څـخه وروستـه په کال ۱۹۴۵م د همـداسې پيـښو د مخنيــوي لپاره په د ۵۰ هيــوادونو په ګــډون په سنـفرانسس کو کې رامنــځته شو چې د همــدې کال تر پايه يې په نړيوال ډول رسمــي پيل وکړی؛ او اوس تقـريبا د ۸۰ کلونو وروســته يې ۱۹۹ هيوادونه غــړيتوب لري او دا هــيوادونه د دې سازمان د هر ډول موســساتو سره تړون لري.

د ملګرو ملتــونو رسمي دفتر د امريکا په نيـويارک ايالت کې دی او نور رســمي دفتــرونه يې د سوويــس په ژنــو، د کنــيا په نايروبي او د هالنــډ په لاهه کې موقيــعت لري.

دا سازمان شــپږ رسمي ارګانونه لري چــې په راس کې يې د امنــيت شورا ځای لري.

د امنيــت شورا د نــړيوالي سولي او امنيــت دنده په غاړه لري، دا شــورا ۱۵ غــړي لري پنــځه غړي يې دايــمي دي عــبارت له (امريــکا، روسيــه، چــين، فرانــسه، او برتانــيا) چې دا غــړي د نړۍ په سطــحه د حق او باطل د معــلومولو اخــتيار لري يعــني هـغه هـېوادونه دي چې که ټوله نړۍ يوه فيــصله وکړي او يو له دغــو ۵ هــېوادونو څــخه يې هغه و نه منــي، نو دغه فيــصله نه عمــلي کيږي او نه يې څوک د عمــلي کولو جـرأت کولای شي.

د ملګرو ملتونو د عدالت او مــساوات درواغــجنه داعــيه هم دلــته معلوميــږي چې د تــولې نړۍ واک يې د پنــځو کفري هېــوادونو په واســطه ولــجه کړی؛ د دوی ټول احــکامات د خپلو شخــصي منــافعو او ډيمــوکراسۍ په رڼا کې ترسره کــيږي.

که يو مســلمان انسان د ملګــرو ملتونو په احــکاماتو باور ولري او هغه ته د احــترام په سترګه وګوري نو د اسلام له دايرې څخه به وتلــی وي ځــکه په اسلام کې د حق اوباطل د معــلومولو او قانون د جوړولو مصدر يوازې او يوازې اسلامي شريعت دی چې له قران کريم څخه منــشا اخلي.

او که د اسلامي شریعت په مخالف ټوله نړۍ هم ودریږي فقط یو حکم ته یې هم تغییر نشي ورکولای داسې نه دی لکه ډیموکراسي چې د جمهوریت په اساس کار کوي.

اوس راشئ تاسو وګورئ چې یو اسلامي هېواد هم په امنیت شورا کې ځای نلري، که چېرې ۵۹ اسلامي هېوادونه یوه فیصله وکړي، او یو له دغو ۵ قوتونو هغه فیصله رد کړي، نو په عمل کې نه شي پلي کیدای، یعنې له اسلامي هیوادونو سره په نړیواله کچه هیڅ اختیار نشته او د اسلامي هیوادونو فیصلې به هم د کفري هیوادونو په محکمو کې تر سره کیږي او هغوی چې اسلامي هیوادونه څومره څېې اختیار یې لري.

په هرحال اوس که دا پنځه هیوادونه په رښتیا هم نړیوالي سولي او امنیت ته ژمن وي او هیڅ خپل شخصي منافعو لپاره کار هم ونه کړي (چې داسې امکان نه لري، دوی یوازې د خپل قدرت د ساتلو او شخصي منافعو په فکر کې دي) بیا هم د یوه مسلمان لپاره د دوی قانونات او احکامات منل نا روا دي ځکه د دوی ټولې پریکړې به د ډیموکراسۍ په بناء وي.

د ملګرو ملتونو په اعلامیه کې ډیر داسې څه شته چې د اسلام سره برملا په تضاد کې دي لکه یوه ماده یې داسې ده : هر سړی حق لري چې د خپلې خوښې مطابق هر وخت او هرځای خپل دین ته تغییر ورکړي... خو اسلام د اسلام د دین د پرېښودو اجازه نه ورکوي او که چا د اسلام دین نه مخ واړوی نو مرتد او واجب القتل حسابیږي...

بله ماده یې دا ډول ده: ښځه او نر کولای شي د دین او جنسیت په نظر کې نه نیولو سره د هر څه یا چا سره واده وکړي... دوی همجنس بازی او لادینې ته تر هر څه ډیر ژمن دي... نعوذ باالله

قدرمنو لوستونکو: اسلام د کفارو سره اختلات نه خوښوي او اسلامي احکام د هیڅ وخت ،مکان او حالت سره نه بدلیږي دا به تر قیامته هم داسې ثابت وي؛ خو که څوک په ډیموکراسۍ (بدلون) باور لري نو هغه دي بیا د اسلام خبره هیڅ هم نه کوي...

او یوه بله خبره اسلام او جمهوریت (ډیموکراسي) داسې سره ضد دي لکه اور او اوبه که څوک د دې د یو ځای کولو هڅه کوي نو د هغه ایمان او اسلام به له سره غورځېدلی وي.
هغه څوک چې د اسلامي جمهوریت نوم اخلي او باور پرې لري هغه دې بیا د رښتیني اسلام خبرې نه کوي...

## ۱۳. فیمنیزم که د دجالي حکومت دام ښځو ته ...

له نن څخه تقریبا ۴۵ کاله وړاندې ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض له منځه وړلو تر عنوان لاندې یوه پریکړه اعلان کړه؛ او په دې پریکړه کې زیات شمیر هیوادونه ورسره ملګري وه، تر څو د هغو قوانینو مخه ونیسي چې د زنا په مخ کې خنډ دي.

د دې پریکړې د عملي کولو لپاره دوی یو څو قوانین د غربي ازادۍ او بشري حقوقو تر رڼا لاندې وضع کړه چې د اسلام لپاره ډیر خطرناکه وه لکه د مساوات په نامه ښځې له کورنو نه را ایستل او بربنډول، د جنین سقط قانوني کیدل، په طلاق، نکاح او هر څه کې ښځه د نارینه په مثل اختیار لرل، همجنسبازۍ ته عامه اجازه ورکول کیدل، د واده قانوني عمر ۱۸ کاله ټاکل کیدل یعنې تر ۱۸ کلنۍ مخکې واده نا روا او زنا روا...

دا قوانین تر ډیر ښایسته عنوان لاندې وضع شوه (د ښځې په وړاندې د هر ډول تبعیض له منځه وړل) او شرقي هیوادونو ته یې هم خبر ور کړئ چې په دې پریکړه کې ور سره ملګري شي او د ښځو په وړاندې دا تاوتریخوالي (اسلام) نور ختم کړي. او زیاتو شرقي هیوادونو هم دا دا قوانین تطبیق کړه...

له دې سره د فیمنیزیم (د ښځو مساوات او ښځپرستۍ) مفکوره هم پیدا شوه، چې دې ډیرې خرابې پایلې لرلې، ډیرو مسلمانو ښځو د اسلامي قوانینو او اسلامي حدودو په اړه خوارا د بې عقلانو نیوکې وکړې، چې پر ټولنیزو رسنیو یې اوس هم وینو، داسې خبرې لکه یوې ښځینه پوست کړی وو: زما پلار ماته په ماشومتوب کې یوه هګۍ راکول او زما ورور ته یې دوې هګۍ، ورکولې ځکه زه ښځینه وم... ډیرو وویل چې دا نوکله انصاف دی چې میراث کې دوې خویندې پر یوه ورور حساب دي...

(دا اوس یو متل ګرځیدلی، اصلاً په څلور ځایه کې ښځه تر نارینه لږ میراث وړي چې دا هم حکمت لري چې موضوع اوږده نشي پر حکمت یې دلته نه ږغیږو، او ۳۰ ځایه ښځو ته له نارینه زیات یا یو ډول د میراث حق ورکوول کیږي چې د میراث د علم پوهان پرې پوهیږي؛ دا د بې عقلانو خبرې دي چې اسلام ښځو ته پوره حقوق نه دي ورکړي بلکې اسلام هر چاته هغه څه ورکړي چې مستحق یې وي او دا د میراث په موضوع کې د نارینه او ښځې ترمنځ

توپیر داسې مثال لري لکه د سترګو او غوږو تر منځ چې توپیر کوي، چې دا هر یو ځانته جلا جلا ځانګړنې لري ، ترمنځ یې توپیر ، لوړ او کښته معلومول نه کیږي...)

ځینې اوس هم پوستېونه کوي ځکه له حقوقو بې برخې یو چې په اسلامي ټولنه کې ژوند کوو، ډیرو یې په ښکاره اسلام تر ټولو پست دین معریفي کړی لکه ډاکټره فوزیه..

خوتر ټولو بد ډول یې هغه دي چې اسلام او فیمنیزم سره ګډوي د اسلامي شریعت په نامه د موډرن او امریکایي اسلام خبري کوي، ځانته د ایاتونو او حدیثونو تفسیر په خپله خوښه کوي...دې مفکوري د ښځو او ډیرو نارینه وو په فکر کې دا ورکړل چې اسلام هغه نه دی چې زموږ اسلافو موږ ته په صحیح شکل را رسولی بلکې اصلي اسلام هغه دی چې غربیانو راته تفسیر کړی، یعنې هر څه چې کوې اسلام د ازادۍ اجازه درکړې.. نعوذ باالله

د دې ډول فکر خاوندانو په اړه الله ﷻ په قران عظیم الشان کې فرمایي (کله چې مو حیا ونه درلوده بیا نو هر څه چې ستاسو زړه غواړي کوئ یې) یعنې له اسلام څخه وروسته پر تاسو هیڅ بندیز او حدود نشته خو یوازې نور ځانته د مسلمان نوم مه کاروئ...

کله چې غربپال د فیمنزیم خبري کوي نو ډیري عادي غوښتنې لري، لکه د تعلیم غوښتنه، په ټاکنو کې د ښځو ونډه، د ماشومانو حقوق او وروسته بیا د مساواتو شعارونه پورته کړي، او په پای کې د نارینه په وړاندې جګړه اعلان کړي...

تردې وړاندې چې د ښځو د حقوقو چیغې ووهې دا واوره!

د یوې امریکایي نوي مسلمانې میلاهان (چې د کورنۍ ټولو نارینه وو یې د شیطان عبادت کوئ او د کورنۍ ښځینه غړو یې د بربنډو فلمونو په شرکت کې کار کوئ؛ څخه پوښتنه وشوه چې ستا نصیحت ښځو ته څه دي؟

هغې نه وویل چې د شیطان عبادت مه کوئ، یا بل څه ؛ هغې مسلمانو خوندو ته یوازې وویل: د ښځپرستې یا فیمنیزم څخه ځان وساتې...؛ هغه یو هیڅل چې د مسلمانو ښځو لپاره د ازادۍ او مساوات د شعارونو پرته دجال حالا بله دسیسه نه لري...

د مسلمانانو د ځوان نسل د ویښتابه سرلاري سعید سید قطب رحمه الله به ویل:

د ښځې دنده انسان جوړونه ده یعنې د ټولنې بنسټ ایښودنه ده؛ د ښځې دنده دا نه ده چې په هوټلونو، هوایي ډګرونو او... کې دې د خدمتګارۍ په شکل کار وکړي...

تاسو که د فیمنیزم د مفکوره لرونکو خبرې واورئ تاسو به وخاندې او بیخي به درته عجیبه ښکاره شي، د سویډن په وړکتونو کې ماشومانو ته د نارینه یا ښځینه په نوم ږغ نه ورکول کیږي، ځکه بیا د دوی جنسیت پرې تپل کیږي او دوی وایي چې جنسیت باید تر ۱۸ کلنۍ مخکې ونه ټاکل شي (په غربي نړۍ کې د جنسیت پر موضوع اختلافات او د جنسیت بدلولو په هکله د +عموم کې غرب څه غواړي+ مقاله کې ږغیدلي یو) کله چې څوک ۱۸ کلن شو بیا د هغه خوښه که له ځانه ښځه، نارینه یا حیوان جوړوي هغه بیا د هر انسان خپله خوښه ده، خو تر هغه مخکې باید جنسیت پر ونه تپل شي، او تر مرګ وروسته جنازه کې هم باید د جنسیت لفظ ترې و غورځول شي ځکه بیا له هغه نه د جنسیت ازادي اخیستل کیږي...

دا بیخي د خندا او بې عقلانو خبري دي که تاسو د دوی په هکله مطالعه وکړئ نو بیخي زیات به وخاندی او ډیر به حیران شئ چې دا څه یو د حیوانیت او جهالت دوران په غربیانو کې روان دی؛ ځکه خو په غرب کې هغه خلک چې وجدان لري د اسلام مبارک دین خپلوي او یا ځانوژنه کوي...

د دوي له شر څخه اسلام هم نه دی خلاص، یوې تش په نوم مسلمانې ښځې اروپا کې دا اعتراض کاوه چې ولې په مسجد کې مؤذن او امام یوازې نارینه وي، ښځې هم دا کار کوای شي، او دې ښځې په جرمني کې د همجنسبازانو لپاره یو مسجد هم جوړ کړی چې امام او مؤذن یې ښځینه دي، او تر شا یې بې وجدانه او د غرب د منیو زیږنده ښځینه او نارینه ګډ لمونځ کوي ،د مسجد مخ ته یې د همجنسبازۍ بیرغ هم ځوړند کړی چې په عربي او انګلیسي حلال پرې لیکل شوی، لکه څنګه چې اوس پر ډیرو حرامو شیانو حلال لیکل شوي وي... نعوذ باالله من ذالک

دا هر څه او هره ورځ په زرګونه نورې داسې کړنې په اسلامي هیوادونو کې هم کیږي...

یوه ورځ مې یوه عربي خپرونه اوریدل چې یوه ښځه مخامخ پر اسلام نیوکې کوي حتا په اسلامي احکامو او حدودو ریشخند وهي خو خبریال د خبرو په پای کې وایې اغلې خپل نظر څرګند کړ... (که هلته اسلام وای دا ښځه باید محکمه شوې وای)

لږ فکر وکړئ! د بې عقلي پای همدا دی؛ تر دې هر څه وروسته به هم یو څوک درته ووایې چې بشري حقوق، د ښځو ازادي (فیمنیزم)... د اسلام سره هیڅ ټکر نلري...

مثلا: ایلهان عمر د امریکا د کانګرس غړې د مسلمانانو څخه غوښتنه کول چې د همجنسبازۍ حقوق دې ومني او احترام دې ورته ولري... نعوذ باالله

توکل کرمان (یو عربي عالم) بیا د یوې نوې مسلمانې ښځې څخه غوښتل چې خپل زوړ کافر خاوند دې نه پرېږدي (ده نوموړې په وینا مسلمانه ښځه له کافر خاوند سره ژوند کولای شي چې دا د اسلامه لیرې خبره ده...) نعوذ باالله

او د یو بل عربي چې فکر کوم د ملا په جامه کې شیطان وو خبرې مې واوریدې چې ویل یې اسلام باید د موډرنیزم سره مطابق وي هغه د پخوا د کوچیانو چمونه باید نه وي ښځې باید په تورو کفنونو کې ونه پوښل شي...

ماته یې عجیبه دا ځای وو چې نوموړي ته د اسلام مبارک حکم او د پاکو مسلمانو میرمنو د عزت ساتونکی حجاب ورته کفن ښکاریدی، او د اسلام سپیڅلی شریعت او ژوند ورته کوچاني او د پرمختلګ خنډ ښکاریدی، سبا به دوی ته د تن جامې هم کفنونه او زندانونه ښکاري نو نړدې ده چې دوی به د حیوانانو په رنګه بربنډ وګرځي...

دا واړه عرب مسلمانان دي، نه پوهیږم چې دوی ته به غرب د ایمان، وجدان، ناموس... د خرڅولو څو اوجره ورکوي، څنګه یو انسان دین او انسانیت ته دومره پست وخیژي

ما خو چې څه زده کړي هغه دا دي چې دین، ناموس، وجدان او خاوره هغه څه دي چې د هغه د ساتلو لپاره باید په زرګونه ژوندي هم قربان شي؛ نه پوهیږم چې دوی دا هر څه ولې دومره ارزانه خرڅوي...

نو له دې ځـاى څـخه معلومه شوه چې هغـه څوک چې د غـرب غلام او د غربيانو له افکارو څخه متاثـره وي اسلام د الله ﷻ له خوښـې سره نه قبـلوي بلکـې د غرب له خـوښې سره سـم يې تفسـيروي او قـبلوي يې...

قدرمنـدو لوستونکو: ما د اديانـو په باره کې ډير معـلومات کړي؛ ما د غربيانو په لاس جوړ شوی عيسـايت، د اسرايلو په لاس جوړ شوی يهـوديت ، د بت پرستانو په لاس جوړ شوی هندويزم او پر ځکه يـوازې يو بشپړ الهـي دين اسلام مطـالعه کړی او ما د انسـاني وجود او وجـدان لپاره تر اسـلام بل غوره ديـن نه دی ليـدلی ، ښـځو او نارينـه وو ته، د لوړې مرتبې او کښته مرتـبې خلکو ته ، تور او سپـين ته چې کوم حـقوق اسـلام ورکړي ما په يوه ديـن کې هم نه دي لـيدلي...

الله تعالی ﷻ فرمايي : په تاسـو کې تر ټـولو غوره زما په نيـزد هغه دی چې تقـوا ولري...

مشهـوره او نه هيـرېدونکی امريـکايي د سوک وهنې اتل او د حقـې لارې موندونکی محمـد علي به ويل: پـه کومـه نړۍ کـې چې زه پيـدا شوي وم، هلـته هر ښـه شی سـپين او بـد شـی تور و؛ هلـته د خلکـو په نظـر خـدای، ملائيـکي او جنـت هم سپـين وو.

وروسـته ما يو اواز واوريـدی چـې: سپـين پر تور او تور پر سپـين هيـڅ فضـيلت نلري، د هر چـا فضيلت د هغـه په ښو اعـمالو او تقـوا پوري اړه لـري؛ او بـيا زه مسـلمان شوم.

قدرمنو لوستـونکو! زه ستـاسو څـخه يوازې يوه هيـله لرم هغـه دا د دې په ځـای چې ډيـر وخـت په ټولنـيزو رسنيو کې د دجـال تر کـيزې لاندې وخت تيـروئ او د شيـطان لښـکرې ډيـروئ ، يا شيـطا ني سريالـونه ګورئ، يا د غـرب د اجنټانو او د غـرب د کرايه شـوو ملـيانو او غـربي داعـيانو خبرې اورئ هغـوي چې اسلام د غرب له خوښې سره سم تفسيروي.

راشـئ حقيـقي اسـلام مطالعـه کړئ، اسلامي سـياست زده کړئ، د غرب دسيـسې وپيـژنئ، اسـلامي تاريخ مطـالعه او د اسـلام په تيـر زرين دور کې فکر وکړئ...

د استـــاد عبدالهادي مجـاهد بيـانونه واورئ ، مقـالې او کتـابونه يې مطالـعه کړئ، د مولـوي عـنايت الله علمـي صـاحب بيانونه واورئ او کتابونه يې مطالعـه کړئ،

د عبـدالغفار جبـير کتابونه مطـالعه کړئ ، د حکـمتيار کتابونه مطالعه کړئ ، د نوو مسـلمانو شوو مؤمنـانو خـبرې واورئ او د هغوی د اسلام راوړلو کيسې مطالعه کړئ، د حسـان زلمي د ويـښتابه خـپروني وګورئ، او هغـه څوک تعقـيب کړی چې تر هر څه زياته مينه يې د الله ﷻ ، د هغه د رسـول او د هغه له ديـن سره وي...

د اسلام په حقيـقت او حقانيـت ځان پوه کړئ.. له ځـانه رواجي او امريـکايي مسـلمانان مه جوړوئ؛ د کـفارو سره په هر څه کې تضـاد او نفـرت ولرئ او د ورک استاد ياسر دا خـبره تل درسـره ياد ولرئ چې ويل به يې: هر هغـه ايمان چې له هغـه نه کـفر په تنـګ نه وي؛ کفـر سره دښمـني ونه لري؛ له کفر څـخه کرکه ونه لري، له کـفر بيزاره نه وي او له کـفر سره مقاطـعه ونه کړي هـغه ايمـان ايـمان نه دی...

د مسلمانانو ستر فاتح او د صلبيانو ملا ماتونکي مجاهد سـلطان صلاح الدين ايوبي به ويل:

مسلـمانو ته بايد څرګنـده وي، چې د غربـيانو په تمـدن کي دومـره بې حـيايي ده چـې ډېره زړه وړونکـې ده، او ملتـونه د هـغوی په تمـدن کې ډېر ژر ډوبـيږي، په هغوی کې شـراب روا دي، د ښـځو له پردېو سره نڅـيدل او يوازې اوسـيدل هـم روا دي.

زمـوږ او د هـغوئ هـمدا تر ټـولو ستر توپـير دی چې موږ د پاک لمـنې ساتـونکي يو او هغـوئ د ناموسونو سـوداګر...

ای خورکې! پوهيږې چې د غرب وحشي تمدن تاته ستا د ازادي تر عنوان لاندې له تا څه غواړي؟

ايا پوهيږې چې ليـوان د معصومې رمې د خلاصون چيغې ولې وهي؟

مسلـماني خورکې! د وخـت او حالاتو تورتم او وحـشي تمدن غواړي چـې له تا سـتا عــزت، عفـت او حيـا واخلي، ستا ښـکلی اسلامي او کلـتوري حجاب بې ارزښـته کړي ...

ګراني خـوري مه پرېږده چې غربي په وحـشت ککړ کلتـور ستا په پاک جـسم او نظر کې ښکاره او سـتا د دوو ورځو ښايسـت ستا دنيـا او اخرت له غمـونو ډک کړي.... ته مـسلمانه يې ...

## ۱۴. منځني ختیځ او د ملګرو ملتونو منافقت...

منځنی ختیځ چې (فلسطین، سوریه، لبنان، اسرایل، جورډن، عراق، ترکیه، سعودي، بحرین، قطر، کویټ، امارات، عمان، ایران، او د ځینو په وینا افغانستان او یمن هم پکې شامل دي)

دا هغه جغرافیایي سیمه ده چې د تاریخ، کلتور، دینونو، جګړو او تنوع په اساس خوارا بې‌ساري سابقه لري، ځینو تاریخ پوهانو دې سیمې ته د پیغمبرانو سیمه، ځینو ورته د انساني نسل د بقا او علم سیمه. ځینو د انعاماتو او نورو ورته په رنګا رنګ نومونو خطاب کړی.

خو په هر لحاظ دا هغه سیمه ده چې د الله ﷻ انعامات پرې را اورېدلي، دا سیمه د نړۍ تر ټولو غوره د انرژي له صادرونکو سیمو څخه ده، د نړۍ تر نیمایي زیات فوسیل فیول او ډول ډول طبعي کانونه له همدې سیمې صادرېږي.

دا سیمه ډېر لږ وخت پخوا د عثماني خلافت په دوران کې د خوارا برم او عزت لرونکې وه.

خلک یې اسوده او له هر ډول نعمتونو برخمن وه، خو د انګریزي امپراتورۍ په جریان کې چې ټوله اسلامي نړۍ یې سره په اختلافاتو کې واچول، دا سیمه هم د چوکۍ د وړو مشرانو له خوا د انګریزي دسیسې (په اختلاف کې واچوه او حکومت پرې وکړه) په مټ په مختلفو وړو هیوادونو وېشل شوه.

د دې وېشنې پیل د انګریزانو په مرسته د سعودي دولت د عثماني خلافت څخه په جلا کېدو پیل او د ملحد اتاترک په مرسته د عثماني خلافت په نړلو پای ته ورسیده او همدلته د اسلامي نړۍ په خاص ډول د منځني ختیځ ذلت هم پیل شو.

له هغه وخته ټوله اسلامي نړۍ د یو بل څخه د ازادۍ اخیستلو په نوم په جګړو بوخته شوې، کلک او نه نړېدونکې سرحدونه ایجاد شوه خپل منځي اختلافات پیل شوه (په عمومي ډول له تېرو څو لسیزو راهیسې، په منځني ختیځ کې نه یوازې دا چې د نړیوالو زبرځواکونو رقابت روان دی، بلکې په خپله د سیمه ییزو او ځایي هېوادونو ترمنځ هم رقابتونه په اوج کې دي

په منځني ختيځ کې دا رقابتونه يوازې تر سُني- شيعه قضيې پورې محدود نه دي، بلکې په خپله د منځني ختيځ په سُنيانو کې هم دا رقابتونه ليدل کېږي.

د افغانستان او ايران ترمنځ بې دليله جګړه، د ايران او سعودي ترمنځ سړه جګړه او رقابت، د سعودي او ترکيې ترمنځ رقابت، د ترکيې او مصر ترمنځ رقابت، د قطر او سعودي ترمنځ رقابت ، د سعودي او يمن تر منځ د غربيانو په لمسون جګړه...

دا هر څه د منځنې ختيځ مشران د غربيانو په لمسون د مشرۍ، سياسي نفوذ او اقتصاد قوي کولو لپاره کوي؛ خو غربيان د لاسوهنې لپاره دلته دوه لوی لاملونه او هدفونه لري لومړی غواړي چې د منځني ختيځ ټوله د فوسيل فيولو انرژۍ خپل په کنټرول کې را ولي، ځکه د معاصري نړۍ جګړه پر انرژۍ ده؛ او په دې ډګر کې کامياب هم دي (امريکا د خليجي هيوادونو په تيلو د نن ورځې سوپر طاقته امريکا ده....)

او دوهم غربيان له دې سيمې څخه په ويره کې دي ځکه پوهيږي که منځني ختيځ سره يو او اتفاق شوه نو د نړۍ هيڅ زبر ځواک به يې د مقابلې توان ونه لري...

په همدې خاطر يې منځنی ختيځ د جګړې په ميدان او د ډول شعارونو لاندې په اختلافاتو بدل کړی... نور د دهشتګردو د پټنځايونو، بشري حقوقو دفاع، هغه او دغه دا ټولې د جګړې بهانې دي( نه يې په عراق د صدام او نه يې هم پر افغانستان د اسامه له امله حمله کړې)

په هر حال اوس به راشو د نړيوالو حالا منافقت ته، د ملګرو ملتونه د انرژۍ لپاره د فاليسي پروګرام د منځني ختيځ او شمالي افريقا (MENA هيوادونو) لپاره داسې فاليسي لري چې دا هيوادونه له هستوي انرژې څخه مطلق استفاده نه شي کولای.

دا سازمان دوه دلايل وړاندې کوي... لومړي دا هيوادونه د انرژۍ له پلوه پر ځان بسيا دي، دا چې هستوي انرژي د دوی په وينا د چاپيريال او خلکو لپاره خطرناکه ده نو اجازه نلري چې کته ترې واخلي.

دوهم دوی ادعا کوي چې د دې هيوادونو مرکزي دولتونه ټول عمر په لړزان کې وي شايد هستوي بټې يې ترهګرو ته په لاس ورشي. په همدې خاطر هم اجازه نلري.

وضـاحت: که تاسـو د هسـتوي انرژي مطالــعه وکړئ نو دا به درته مـعلومه شي چې د چاپیریال او خلکو لپـاره دا تر فوسیل فیولو ډیره خطرناکه نده، البته که یوازې د انـرژي لاسـته روارل مقـصد وي... دوهـم د اسرایلو دولت له هسـتوي انرژي څخه د ګـټې اخیستنې هر ډول اجـازه لري ، په کوم دلیـل؟ ایا اسرایل له منـځنې ختیـځ له هـیوادونو څخه نه دی او که ئې مرکزی دولـت ډیر بر کراره دی...؟

اصــلاً د ملګـرو ملتـونه استـازي خپـله د یهـودو اجـیران دي، او یهود د مـسلمانانو سره د دښمـنی بدایه تاریخ لـري؛ دوی نه غواړي چې اسلامي هیوادونه دي ازاد او پر خپـل ځان بسـیا اوسي او ټول عمر یې کوښـښ کړی چې مسلمانان خـپل لاس ته محتاج وساتي.

د مـلګرو ملـتونو په اړه خـو ډیـر ږغیـدلي یو د دوی منافقـت خو اوس برمـلا شوی او څـوک چې سترګي پـرې پټـوي نو خامـخا به له هغـو کسانو څخه وي چې خپـل شرف او وجـدان یې د غربیـانو د خوشـحاله کولو لپـاره وژلي اوسـي.

آیا ستـاسو فکر نه وو کله چې اسرایلو پر فلسـطین بمـونه غورځول تر هـغو چې فلسـطین ئې اشغـال کړ ټولـې لاري یې پر وتړلـې په میلـیونو مظلـوم فلسطیـنیان یې په شهـادت ورسول نو دوي هیـڅ عکس العـمل نه ښودی؛ خو کله چې حمـاس خپل د ځـان، عـزت ، دین او هیـواد د فاع لپـاره مقاومـت شروع کړی نو ملګـرو ملتونو د ترهګرو او دهشتګردو په نوم یاد کړل.

قدرمندو لوستـونکو! د اسلامي تاریخ په مطالـعه سـره به تاسو ته معلـومه شي چې د اسـلام د رڼا د خپـریدو سره سـم یهـودو د دې رڼا د پټـولو هڅه کـړې او په دې لاره کـې یې له هیڅ ظلم، تیـري او وحـشت څخه دریـغه نه ده کړې...

خپل دښمـنان مو وپیـژنئ! دا یهـودان، عیـسایان او بت برست مشـرکان( هندوان) هیـڅ کله هم د مسـلمانانو خواخـوږي او دوسـتـان نـشي جوړیـدلای ځکه دا زموږ خـالق او پالـونکی رب وایې؛ بلـخوا زموږ اسـلافو چې دوی ته کوم د ذلالت درس ورکـړی د دوی له زړونو څخه لانه دی وتلی هر وخـت د موقع په انتـظار وي او هر وخت چې یې د یو مسلمـان ورور مخ ته چـپلاخه جوړه شـوې دریغه یـې نه ده کړې...

# ۱۵. د اسلامي مرکزونو لپاره د دجال دام...

د اسلام د ځلېدو ځای د حجاز مبارکه خاوره ده، دا هغه خاوره ده چې مبارک حضرت محمد ﷺ قدمونه پرې ایښي، له همدې ځایه اسلام د عروج د نګو څوکو ته رسېدلی، او همدا خاوره تر ډېره د اسلامي خلافت مرکز پاتې شوی.

د اسلام د خلافت مرکز کرار کرار د وخت په تېرېدو سره د ترکیې مبارکې خاورې ته ورسیدي (هو همدا د نن ترکیه یو وخت مبارکه وه) د دغو دوو اسلامي مرکزونو په جریان کې اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسیدي؛ او د نړۍ پر مخ داسې هیڅ کفري واکمن نه وو چې، د اسلامي خلافت د نوم په اورېدلو به له ویرې نه رېږدېدی.

اسلام خپل د برم او عزت په دنګ منار ناست وو؛ د یونان، فرانسې او نورو اوسني زبر ځواکونو مشرانو ته به له اسلامي نړۍ څخه په دا ډول لیکونه ورتلل (د اسلامي خلافت د امیر معزز ..... څخه د یونان، فرانسې....خبیث واکمن ته دا رنګه امر کېږي...)

خو د اسلامي نړۍ تر پاشل کیدو (په دتیره برخه کې یا دونه شوې وه چې څنګه وپاشل شوه) وروسته د کفري د سیسو په اوږدمهاله پلانونو کې د همدې مرکزونو بدلول په دجالي ځایونو شامل وه؛ دا اوږدمهاله پلانونه یې له هغه وخته پیل کړي او نن تقریباً هدف ته رسیدلي؛ نن که موږ فکر وکړو د عربو خاوره د نړۍ په ستر عیاشي مرکز بدله شوې، د عربو ښځې د نړۍ د عیاشو په کتار کې اول مقام لري، د خیبر ځمکې ته اوس یهودان ورځي، د حجاز خاوري ته د نړۍ د ستر غدار په ورتلو جشنونه نیول کیږي، د شیطان ورځ د حجاز په مبارکه خاوره کې لمانځل کیږي، د ریاض په ښار کې د شرابو دکانونه د جواز لیکونه تر لاسه کوي، د نړۍ ستر عیاش خلک د ځان سرلولو لپاره د عربو ځمکي ته ځي.

ایا دا د دجال د ملګرو ځای ندي؟... آیا په یو څو محدودو سیمو کې د یو څو محدودو اسلامي حکمونو په مرعاتولو سره اسلامي مرکز ورته ویلای شو؟....

د رومي القحطاني (د سعودي په خاورو کې د غرب له مینو را وتلې په اسیا کې د کال د ښکلا ملکه) په اړه د احرار مجلې دا لاندي متن هم کافي دي.

۱۹۹۶ م کال په نومبر کې د احرار مجلې په یوه مضمون کې راغلي وه ژباړه: په کال ۱۹۳۲ کې د ترکیې جمهوریت ورځپاڼې د ښکلا د ملکې لومړۍ سیالۍ اعلان کړه چې کریمان خالص مسلمانه پېغله یې د ښکلا ملکه اعلان کړه.

په همدې کال کریمان خالص بلجیم ته لاړه تر څو د ښکلا په سیالۍ کې ګډون وکړي ،دا سیالي د بلجیم په سپا ښار کې په لاره اچول شوې وه، څو د نړۍ په سطحه د ښکلا ملکه وټاکي په دې سیالۍ کې د ۲۸ هېوادونو پېغلو ګډون کړی وه چې د لومړي ځل لپاره یوې مسلمانې پېغلې کریمان خالص حضور پکې درلود.

د مسابقې ګډون کوونکو پېغلو خپل بدنونه د مجلس حاضرینو ته ور وښودل په دې وخت کې د پرېکړه کوونکو مشر په تلوار سره ولاړ شو او کریمان خالص یې د ښکلا ملکه اعلان کړه نوموړي د مجلس ګډونکوونکو ته داسې وویل:

د ټولنې درنو غړو نن ټوله اروپا د نصرانیت د بریالیتوب جشن لمانځي، هغه اسلام چې ۱۴ سوه کاله ئې پر نړۍ واک چلاوه نن پای ته ورسېدی د ترکیې د ښکلا ملکه کریمان خالص هغه انجلۍ ده چې لارو کوڅو ته نه راوتل؛ نن زموږ په وړاندې ولاړه ده او د اوسنۍ مسلمانې مېرمنې نمونه ده.

او زیاته یې کړه خبر و اوسئ دا د هغه مسلمانې مېرمنې لمسۍ ده چې ځان به یې د خلکو د سترګو پټ ساتي او اوس زموږ په وړاندې په یوه شرټ کې ولاړه ده، دا د عثماني خلافت د بادشاه سلطان سلیمان قانوني لمسۍ ده چې خپل سرحداتو ته نږدې یې پر موږ هره خوشحالۍ بنده کړې وه تر څو نصرانیت یې هېواد ته دا خل نشي او اوس ستاسو مخکې په یوه شرټ کې ولاړه ده او پر بدن یې بل هیڅ نشته دا غواړي چې موږ د هغې بدن ته وګورو او د هغې بدن خوښ کړو؛ موږ دا خوښه کړه او هغې ځان موږ ته وسپارې؛ موږ باید اعتراف وکړو چې دا پېغله زموږ د بریالیتوب تاج ده او هغه د ښکلا د ملکې په صفت نړۍ ته ور پېژنو معلومه خبره ده چې دا د دې سیالۍ د ټولو ګډون کوونکو څخه ښکلې نده خو دا زموږ لپاره ډېره مهمه ده څکه چې دا پر مسلمانانو زموږ د بریالیتوب سبب شوې ده...

ترکیې ته به راشم؛ د ډیرو خلکو خو بیخي له یاده وتلي چې د نن ډیموکراته او دناټو غړې ترکیه یو وخت د اسلام ستر مرکز وو، هغه ترکیه چې نن پکې د هر ډول ناروا د کولو جواز نامه ورکول کیږي.

په هر حال یو څو وخت مخکې مي د یوه ترکي ځوان چې په لاره کې ګرځي او له خلکو څخه د تاریخ په اړه پوښتنې کوي د یوې ښځې سره خبري مرکه واوریدل.

ځوان پوښتنه ځینې کوي او اجازه هم ځینې اخلي چې موږ دا مرکه په ویډیو یې شکل ثبتوو ښځه ورته وایي سمده فرق نه لري...

لومړی پوښتنه یې دا وي چې آیا له مصطفی کمال اتاترک سره مینه لرې؟ (اتاترک یعني د ماډرن تورکیانو پلار چې د خلافت په نړولو او د جمهوریت په راوستلو سره غربیانو دا لقب ورکړ، لکه زموږ ځینو ته چې یې د غاریانو لقبونه ورکړل. اتاترک د امان الله خان د باچاهي له دوران سره هم محاله ترکیه په جمهوریت بدله کړه چې له همدې ځایه بیا اسلامي نړۍ سر نه دی او چت کړی، چې په تیره برخه کې ښه پوره تشریح شوي.)

ښځه ورته وایي: نه؛ زه له اتاترک سره مینه نلرم، ځکه هغه زموږ دین ډیر خراب کړی، زموږ زر کلن حکومت او زرکلن تاریخ یې را ورک کړي؛ د علماوو په اعدامولو او مدارسو په بندولو یې موږ یې بیا د جهالت کندې ته بوتلو، زه به د اخرت په ورځ له هغه څخه پوښتنه کوم، ولې دې زموږ دین تحریف کړی...؟

دا چې یو کوچنی کومک دې له دین سره نشو کولای نو څه له دې زموږ دین د جمهوریت په نوم بېخي هذف کړو؟ څه له دې د اروپا کلتور او مذهب د ترکیې مبارکو مسلمانانو ته راوړې؟

دا د غربیانو د اوږد مهاله پلانونو پایلې دې چې موږ یې اوس وینو!

د صلیبي جګړو اتل سلطان صلاح الدین ایوبي به ویل: زه د صلیبیانو د یرغل هیڅ پروا نه لرم، غم دادی چې څوک یې مخه نیسي، هغوی د شرابو په جامونو ډوب دي، د اسلام ساتونکو ځانونه په حرم کې بندیوانان کړي دي، د ښځو زلفې یې د پښو زنځیرونه شوي...

له بده مرغه چې نن هم دا کیسه ده....

قدرمنـدو لوستونکـو! آیا وخـت نه دی راغلـی چـې فـکر وکـړئ؟

آیـا فـکر نکـوئ چې ډیر وخـت د ښکلا ملیـکه ولې مسـلمانه ټاکل کیـږي؟

آیا فکر نکوئ چې په موسـساتو کې د ښـځو معاشات له نارینـه وو ولـې لـوړ وي؟

ولې مسـلمانو ښـځو ته په غـرب کې له حد زیـاتې اسانتیـاوي برابـرېږي حالأ چې که یـوه غـربۍ انجـلۍ مسلـمانه شـي تر ټولو ډیـر بنـدیزونه پرې لګیـږي؟

پر دې سربیـره چې غرب کې ډیـرې تکړه لیـکوالانې ډاکتـرانې ، پوهانـې او مدني فعـالانې ښځـې شـته خـو د نوبـل جایـزه زیـات وخـت د مسـلمانو ښـځو لـخوا په نه څه ورل کیـږي؟

ولـې پر نه څـه مسـلمانې ښځـې ډیـرې هڅـول کیـږي ، او په ډول ډول جایزو تشویق کیـږي؟

اوس وخـت دی چـې بایـد پوه شو..

اصـلأ دوی غـواړي چـې مسـلمانو ښـځو ته څرګـنده کـړي چې موږ تاسـو ته تر اسـلامي حـقوقو زیـات حـقوق درکوو، خو نـه! دوی له ښځـو انسـانې حقوق هم اخلي...

الحمدالله اوس غرب په دننه کې خپـله حق مونـدونکي ډیر زیات شـوی، او نـږدې ده چې اسـلام به برتانیا ، امریـکا ، فرانسـې او ټولـې اروپا ته یو نـوی پړاو ور کړي؛ چې دې خـپله د دجال لښـکري په ویره کې اچـولي دي...

دا د ویاړ خـای دی چې په غرب کي اسـلامي دین د پیـروانو شمیر د اسلام د حقانیـت له وجې مخ پر زیاتې دو دی ، او مـهمه ټکی په کي دا دی چې د عـلم او بصیـرت خاوندان د اسـلام دیـن ته مخـه کوي او په زیاته کـچه هغه ښـځي چې له غربي او چټل فرهنـګ څخه چې سـتړي شوي وي نو د سکـون دیـن اسلام ته پـناه راوړي؛ کـله چې زه د یو نوي مسـلماني شوي ښځي یا نارینه کیـسه واورم نو زمـوږ او ستـاسو پر حال ډیر افسـوس وکړم.. هغوی د اسلام د یو څو ورځو له تجربه کولو وروسـته د خـپل ټول مال، اهل، هوساه ژوند او هـرڅه د لاسـه ورکولو ته د اسـلام لپاره اماده شـي او خـپل هر څه له لاسـه ورکړي، د اسلام میـنه یې تر هر څه په زړه کې ډیر ځای ونیـسي، خو موږ له ماشـومتوبه د اسلام په تجـربه کولو سره بـیا هم د اسلام سره د میـني انـتها ته نه یو رسېدلي... اسـلام ته باید تر هرڅـه لومړیـتوب ورکړو ، تر هـر څه...

## ۱۶. حالات ولـــي سرچـــپه شوه ...

د نـړۍ ټول کنـټرول حالا د یـهودو (اسرایـلو...)په لاس کـې دی او دوی د خـپلو اهدافو لـپاره صلیبـیان (امریـکا...) کاروئ؛ نـړۍ ته داسـې ښه یـې چې حالاټول کنـټرول د صلبیـانو په لاس کې دي خو اصـلاً صلبیـان ټول د یـهودو غـلامان او پـوروړي دي.

د امریـکا ټول ولسـمشران د فریـمیسـن او ایلومیـناتي تنظیـمونو( دجالي تنظیـمونه دي چې پورته یې په هکله پوره معـلومات شته ) خـلک دي، یـواځې ابرام لنـکولن وو چـې د دوی په حقیـقت تر پوهـیدو وروسـته له دوي سـره د یو ځای والي انکـار وکړ او هـغه یې په سپیـنه مانۍ کې په یـو چریکي برید ووژی...

یـو وخـت وو چـې اسلامي نړۍ د ځمکي پر ټوله کوره باچـاهي کـول خـو اوس د خپلو سرحـداتو د ساتلـو لپاره هم صلبیـانو او یـهودیانو ته اړ دي.

نه پوهـیږم چې اسـلامي هـیوادونه له چا څـخه سرحـدونه سـاتي ؟

صلبیان او یـهودیان خو اوس په ازادانه شـکل هر اسـلامي هـیواد ته سـفر کولای شي او د دوی په سـفر که یو اسـلامي هـیواد ته وي نو د هـغه هـیواد مـشران خوشـحاله کیږي او دا د ځان ویـاړ بولي چـې د صلیبـیـانو، مشریـکانو او یا یهـودانو مشر د دوی غـلام دربار ته تـشریف راوړي... نه پوهـیږم چې ولي یې د مسـلمان ورور پر مـخ دروازه تړلې...؟

د کفري نړۍ خلک خـپل په مـنځو کې او په اسـلامي نړۍ کـې تر لږ قـانوني پـړاوو وروسـته ازادانه هـري خواته حـرکت کـوای شي (که یو څوک په اروپایـې هیـوادونو کې د یـو هیـواد تابعـت ولري نو په ټـوله اروپا کې ازادانه کرځیـدلای شي...)

بلـخوا که تاسـو غواړئ د یو اسـلامي هیـواد څخه بل هیـواد ته لاړ شئ نو تاسـو به تر ډیـرو شدیـدو قـانوني پړاوو تیـرېږئ، او وروستـه هم بـیا تاسـو ته تر ټاکلـي وخـت پوري مـحدوده اجازه در کول کیـږي ( حج ته تلل...).

هغـه وخـت څه شـو چې دا هر څه سـر چپه ود د اسـلامي نړۍ ترمـنځ هیـڅ سرحد نه وو او کفـارو خپلو منـځونو کې ډیـر محـدودیـتونه درلودل...؟

تر نړیوالو جګړو وړاندي په ۱۹ پیړۍ کې د نړۍ په سر د اسلام سرسختو دښمنانو په ګډه یو مخفي کنفرانس جوړ کړی د مسلمانانو د پرمختګ او بې انتها ارام ژوند ( د اسلامي خلافت او د مسلمانانو د برم وخت ) د بربادولو او کفري نړۍ د یو کولو لپاره پکې نظریې غوښتل کېدې او په پای فیصله وشوه چې موږ به دا هر څه سر چپه کوو (د اسلامي نړۍ تر منځ اختلافات را ولاړول، په هیوادونه ویشل او نه نړیدونکي سرحدونه ایجادول او د کفري نړۍ ترمنځ اختلافات ورک کول سرحدونه له منځه وړل او د اسلام په وړاندي یو موټي کېدل)

او د دې کار لپاره یې ملحد خلک په اسلامي نړۍ باندي د غازیانو او ازادي اخیستونکو په نوم مشران کړل، ترڅو واحده اسلامي ټولنه او خلافت یې راته په ټوټو ووېشي، او د اسلامي هیوادونو تر منځ یې داسې سرحدونه ایجاد کړه چې هر وخت یې په خپلو منځو کې پرې جګړه روانه وي او د دې جګړې د ورو کولو لپاره یې هر وخت غربیانو ته څولې نیولې وي، او هغوی بیا د جګړې د درولو په ځای د جګړې اور ته لالمن وهي...

له حالاتو او تاریخ څخه معلومیږي چې په خپل دې پلان کې د دوی تر فکر هم زیات دوی کامیاب شوه...

قدرمنو لوستونکو! د اسلامي نړۍ د قدرت او سرلوړی مقام په اتحاد کې وو، له څه وخته چې اسلامي نړۍ خپل په منځو کې سره اخته شوې په هر ډګر کې غرب خپل ځان ته محتاجه کړې؛ نو راشئ چې یو ځل بیا د خلافت له تاج څخه دوري لیري کړو او خپل پر سر یې کښیږدو، دا د وړونو ترمنځ د انګریزانو په لاس جوړ شوي سرحدونه له منځه یو سو.

د مسلمانانو د ځوان نسل د وینښتابه سرلاري سعید سید قطب رحمه الله به ویل:

څوک چې د سایکس او بیکو په سرحدونو ایمان او باور لري، هغه دې د اسلام خبري نه کوي ، ځکه موږ د هغه اسلام بچیان یو چې ابوبکر صدیق رض پکي عرب دی ، سلمان فارسي رض پکي د فارس دی، صهیب رض پکي د روم دی او بلال رض پکي د حبشې دی...

موږ ټول یو یو.....

## ۱۷ . د دريمې نړيوالې جګړې لپاره امادګي او موږ...

له ازله د حق او باطل جګړه روانه ده، شيطان تکبر وکړ او د الله ﷻ له حکمه يې سرغړونه وکړه هغه وخت چې امر ورته وشو چې ادم عليه السلام ته سجده وکړه خو ده اطاعت ونکړ او منکر شو، ځان يې په لوی لاس د حسد په ځنځيرونو تړلی د جهنم کندې ته سيده کړ.

همدا لامل وو چې د الله ﷻ له طرفه هم ورټل شو له جنتونو را و ويستل شو د شرافت او عزت له منصبه لاندې د ذلت کندې ته را وغورځول شو.

له هم هغې ورځې يې قسم اخيستی چې له انسانانو سره به سرسخته دښمني پالي، ځکه هر ډول دسيسې او پلمې جوړوي تر څو انسانان خطا کار او مشريکان جوړ کړي، تر څو فتنه او فساد ايجاد کړي او انسانان په فتنو او ډول ډول جګړو اخته کړي.

نن او پرون چې په نړيواله توګه کوم جنګونه روان دي دا ټول د شيطان او دجال د د سيسو له امله دي، خو يو وخت به داسې هم راځي چې په ټوله نړۍ کې به يوازې د حق او باطل پر سر جګړه يوازې د دوو ډلو تر منځ وي.

د شيطان لښکري به په يوه صف کې وي او د رحمان لښکري به په مقابل صف کې وي.

او موږ باور لرو چې دا جګړه به مسلمانان د شيطان لښکرو ته په شرمونکې ماته ورکولو سره ګټي..

د يهودو، صليبيانو(عسايانو) او مسلمانانو په مقدسو کتابونو کې د هغه جنګ يادونه شوې چې د حق او باطل ترمنځ به يکې د ټولې نړۍ ترمنځ جګړه وي او تقريبا ټول متفق دي چې په هغه وخت کې به عيسی عليه السلام و ځمکې ته راځي.

دا به د حق او باطل ترمنځ اخيري او تر ټولو لويه جګړه وي چې په اسلامي تاريخ کې د هرمجدون په نوم او کفري تاريخ کې د ارمه ګډون په نامه راغلې او ټول دينونه متفق دي چې په دا جګړه کې به حق ډله ګټونکې وي ( دا مو بايد ياد وي چې صليبيان ،يهودان، مسلمانان او ټول دينونه خپل ځانو ته د حق ډله وايي)...

صلیبیانو او یهودانو خپل امادګي نیولي او د دې جنګ لپاره یې په ټوله نړۍ له هر پلوه ولکه پیدا کړې، اسلامي هیوادونه یې ځان ته مسخر کړي او له زیاتو څخه خپل غلامان او لاسپوڅي جوړ کړي، دوی په ډول ډول لارو د مسلمانانو روحیې او وجدانونه وژني او پر اسلام یې شکمن کوي؛ تر څو د حق او باطل په دې لویه جګړه کې د مسلمانانو څخه تر جګړې مخکې لا دا جګړه وګټي.

د دوی په زرګونو دسیسو کې یوه هغه دسیسه هم ده چې موږ یې د ټایم پاس لپاره ګورو او هیڅ فکر هم نه کوو چې دا به د یهودو، صلیبیانو او مشریکانو یوه لویه دسیسه وي.

دا دسیسه د فلمونو، سریالونو او کتابونو په پوښ کې ده..

که تاسو د هالیوډ فلمونو او سریالونه وګورئ او یا د صلیبیانو او یهودانو په لاس لیکل شوي ناولونه ولولئ نو زیاته فیصدي به یې د نړۍ پر راتلونکې (3000،2300،2124...) فضایي(پرسپوړمۍ، مریخ او نوروسیارو د ژوند کولو) او نظامي (نړیوال جنګونه، د نړۍ پای، بربادي...) ... برخه وي.

او که د بالیوډ او ترکیې فلمونه سریالونه او ناولونه وګوري نو زیاته فیصدي به یې د کورنۍ نظام ، ټولنیز ژوند ،مینې... په هکله وي ؛ ایا تر اوسه مو فکر کړئ چې ولې ؟

لویه ستونزه دا نه ده چې زموږ د نوي نسل زیاته سلنه فلمونه ګوري، ستونزه دا ده چې په مفهوم او مقاصدو یې فکر نه کوي.

موږ چې فلمونه ګورو ډیر فوکس مو د فلمي لوبغاړو پر کردار وي او یا ځینې وخت مو کیسه هم خوښیږي، خو په فلم کې نوري زر هم خبري شته.

زیات فلمونه چې موږ ګورو دا د مذهبي مشرانو او سترو پوهانو د مشورې لاندې جوړ شوي وي مثلاً د فلمي لوبغاړو ستایل، بګراونډ، جامه، قواره، قدم وهلو او هر څه کې یو مقصد شته (که تاسو د لاپوهیدنې لپاره پر (i pet goat II) کارتون یا سمسون کارتون باندې د نړۍ د پوهانو نظرونه وګورئ نو تاسو به ډیر حیران شئ؛ او همداسې په بالیوډ کې د کیساري، پانې پت ، کمانډو ۳ او ډیرو نورو فلمونه باندې تاسو لږ فکر وکړئ...

صلبیـــان او یـهودیان راتـلونکي نـسل ته د فلمو، کـتابونو او نورولارو په وسیـلـه دا پیـغام ورکوي چې موږ به د شدیـدو جنـګونو شاهدان و اوسو، خو موږ د هـر ډول جګړې لپاره امـاده یو او هیڅ داسې قــوت نشـــته چې زموږ څـخه دي جـګړه وګټي، هره جګړه به زموږ په بریالیـتوب پاي ته رسیـږي، او عیـسی علیه السلام به موږ له څـانه سره اسمانو ته بیـايي.

او بل خواته د اسلامـي نړۍ د راتلونکې نسـلونو لپاره هـم پروګرامونه جـوړوي چې دا کار زیــات د ترکیـې او هـند په مرسته کوئ، د اســلامي نړۍ راتلونکې ته د مینــې په نامه چتیــاټ ، کورنی جنــجالي ژوند ، بې حیــايي او فــهاشي ور زده کوي چې تقریــباً خپل په مقصد کې کامیــاب معلومیــږي، تاسـو شاهـدان اوسـئ که حــالات هــمداسي روان وه زموږ د اسـلامي نړي راتلــونکی به ډمـــې او ډمـــان وي، حیـــا به نه پیـــژني، او د ماغ به یې داسې تســخیر شوی وي چې د هیـــڅ شي په اړه به د فــکر کولو تــوان نه لري...

آیــا د داسې نـسل سره به مــوږ نړیــوالي د حــق جګړې ته اماده یـــو؟

قدرمندو لوستــونکو! د غرب له خوا چې هرڅه مـــوږ ته وړاندي کیږي، په دې کي د غربیـــانو لوی لوي پلانــونه وي تر څو فکــرونه مو مــحدود کړي، ځانو ته مـــو مســخر کړي او په دې سره هر هــغه څه په پټــوسترګو ومنــو چې دوی یــې راته وایي...

که تاســو د هالیوډ او بالیوډ د فلمونو غــداران هــم وګورئ، نو زیاتــره یې د مســلمانانو په رول لوبــولي وي او څـومره چې یې پر شــریعي طریقه ســم کړي وي هغــومره یې بد ، ظالــم او ذلیـــل معریفي کړي وي، مــعلومه خبره ده چې چې د فلم لیــکونکی کوښښ کوي چې اسلام هغــو خلکو ته چې لا د اســلام په هکله خــبر هم نه وي یو بد دیــن معریفي کړي؛ او هــم مهاله د مسلـــمانانو په منځو نو کې د امریکــايي اســلام د خپراوي کمــپاین کوي؛ راته وایــي اصلي اسـلام هغه نه دی چــې زموږ اســلافو عملي کوي، بلکې اصلي اسلام خو دا د دیمـوکراسی او ازادی دیـن دی هر څه چې کوې اسـلام دومره ســخت نه دی او نه هـم حـدود لري... نعوذ باالله

زما له تاسو څخه دا هــیله ده چې هر هغه څوک چې ستــاسو تر تربیـې او لاس لاندي خــپل ژوند کــوي، هــغوی ته الهــي اسلام تعریف کـړئ. کـفار ور وپیژنئ او ورته ووایاست چې دا زموږ ازلي دښمنان دي، د کفارو دسیـــې ور وپیژنئ، د اسلام ریښتوني اتلان او د غرب غلامان ور وپیژنئ.

## ۱۸. اسلام، عقل، زموږ برداشت او اختلافات...

اسلام د حقانیت، عقلانیت او یوالي دین دی...

ډیر خلک داسې فکر کوي چې د اسلام قوانین او په عموم کې اسلام په ځینو ځایونو کې د عقل او ساینس سره مطابقت نه مني، دا بلکل غلطه خبره ده.

که د یو چا عقل د الله ﷻ د لارښوونو حکمت او حقانیت ته نشي رسیدلای نو دا د عقل کمزوري ده؛ نه د الله د سپیڅلو لارښوونو...

او یوه شئ چې عقل په تعلیم او عمر پسې ونه تړئ؛ شاید یو عالم وي یا یو زوړ سپین ږیری خو عقل به یې د ماشوم وي.

ډیر داسې څه شته چې په نړۍ کې یې ډیر لږ عقلونه درک کولای شي مثلاً د البرټ انیشتاین (د ماډرن فزیک پلار) تیوري چې یوازې د البرټ او تر اوسه په شمار خلکو عقلونو درک کړې ده.

او بله مهمه خبره دا هم کیدای شي چې د یو انسان عقل یوازې په یوه بخش کې ډیر لوړ وي لکه همدا د البرټ عقل خاص په نسبیت کې ډیر فعال وو نوري برخې ترې بیخي پاتې وې، همداسې د هر مخترع عقل د هغه په اختراع کې عروج ته نږدې شوی دی.

اوس راشئ که د نړۍ د راتلونکو او تیرو شوو خلکو ټول عقلونه یو انسان ته منسوب کړو او هغه انسان په هر څه کې نابغه وي نو هغه به ووایې چې په اسلام کې هیڅ داسې څه نشته چې هغه دي له عقل او ساینس سره په ټکر کې وي.

او بیا که همدې سړي ته ووایو چې څه ته د نړۍ لپاره یو نظام جوړ کړه نو هغه به ووایې د انسانیت لپاره تر اسلام غوره دین بل نشته...

ډیر وخت پخوا ماته بحث او دلیل ډیر ښه خوند راکوی او له ساینس سره مې ډیره مینه هم وه هر وخت به مې له یو چا سره په یو څه نه، یو څه بنده وه.

ما د ډیرو سترو دیني عالمانو سره خبري کولې هلته ماته معلومه شوه چې له بده مرغه زموږ ډیر ستر دیني عالمان له ساینس سره ډیر متفاوت نظرونه لري خو دا د دې معنا نه لري چې اسلام د ساینس سره متفاوت دی بلکې همدې عالمانو ساینس ته شا کړې.

په داسې حال کې چې د ساینس بنسټ هم مسلمانانو ایښی ، دا هرڅه د غربي دسیسو پایله وه چې کرار کرار یې د اسلام او ساینس تر منځ ډیر لوی واټن رامنځته کړ، یو وخت وو چې د ساینسي زده کړو لپاره به غربي خلک د اسلام مرکزونو ته راتلل، زموږ ساینس غربیانو را څخه واخیستی او دا یې په ذهن کې راکړل چې دا د غرب علم دی...

خو مهمه خبره دا ده چې اسلام هر څه ته حد ټاکلی د اسلامي نړۍ د اختلافاتو له وجهې اوس په اسلام کې افراط او تفریط بیخې ډیر شوی.

ځیني عالمان دومره تفریط کوي چې بیخې د ساینس یوه خبره هم نه مني او ساینس د غربیانو او خرافاتو علم بولي د ځمکي د حرکتو، کائیناتو، ستورو ، د هوا حالاتو وړاندوینو او نورو په اړه لاخبري نه کوي لکه زیاتره زموږ کلیوال علماء...

ځیني نور بیا دومره افراط کوي چې بیخي هغه شیان چې د دوي نا قص عقل یې نه مني نو له اسلام څخه یې باسي لکه د شیطان سفیر منصور علي الکیالي او بیخي ډیر نور عرب عالمان چې د قبر د عذاب او نورو مسئلو څخه منکر شوي یا لکه موږ کې منیر شاکر... داسې خلک بیا دین د غربیانو په خوښه تفسیروي...

خو د اسلام اصل منځلاریتوب دی اسلام افراط او تفریط نه مني... اسلام هرڅه ته حدود ټاکلي او هر وخت یې موږ ته په حدودو کې د فکر کولو لپاره ویلي، موږ یې امر کړي یو چې خپل له عقل په پوره اندازه کار واخلو، ساینس وڅیړو او د الله ﷻ په قدرتونو اسمانونو ستورو او هر څه کې ښه ډیر فکر وکړو...

په قران عظیم الشان کې په ډیرو ځایونو کې راغلي چې: ایا تاسو عقل نه لرئ، ایآ تاسو فکر نه کوئ... په وار وار یې مسلمانان فکر کولو ته مجبور کړي.

الله ﷻ فرمایي: زه یو قوم ته تر هغو عذاب نه ورکوم تر څو رسول مې نه وي ورته لیږلی.

زموږ امام اعـظم ابو حنيـفه رح د دې تفسيـر دا ډول كـوي : د رسـول څـخه دلـته عـقل سليـم مراد دی او كه په يـو لک او څلورويـشت زره رسـولانو كې يـو هم نه وای نو پر خـلكو لاژمه وه چې په عقـل سليـم سره حـقه لار او خـدای ﷻ وپيـژني...

خپـل منـځي اختـلافات د عـقل د زوال علامه ده...

په اسلام كې دتنـه غربيانو او دجـالي تنظـيمونو دومره اخـتلافات پـيدا كړل چې د زياتو خـلكو څـخه يې حقه ډله او د رښتـني حـقي لاري پيـروان ورک كړل، په اسلام كې دتنـه يې په زرگونه ډلي د جلا جلا فكـرو سره پيدا كـړې.

څوک يې د انسـاني ناقص عقل پرستان كړل هغه چې يوازې اسـلام د خپـل ناقص عقل سره سم تفسيروی او چـاته يې دا په ذهـن كې واچول چې بايد په هـيڅ شي كـې هم فـكر ونكړو د الله ﷻ په ذات كـې د فكر نه كـولو په پلـمه يې د هغه په قـدرتونو كې هم فكـر كول راڅخه بنـد كړل، كـه يو داسـې پوښـتنه وكـړې چې له دوی سـره يې په هـكله مـعلومات نه وی نو دوی درته وايي چـې بل ځل داسـې پوښتـني مه كوه عقـيده دې خـرابوي.

ځـينو ته يې پوره ازادې وركـړل ځيـني يې جمـهوريت پال كـړل، د ځيـنو ايمان يې پر ډيمـوكراسۍ برابر كړ، د ځيـنو څخه يې سخـت دريځه اوتر هر څه كـلتور ته ژمـن خلـک جوړ كړه د ځيـنو څخه يې بې شـرفه بې حيـا او غرب پال خلـک جوړ كړه، وهابـيان، پنـج پيريان، سلـفيان ... په زرگونه ډول ډول او مخـتلف النظره ډلي يـې په اسلام كې پيـدا كړې، اصـلي بشپړه اسلامي او تر هرڅه اسلام ته ژمنـه ډله يې پكـې وركه كړه...

غربيـانو د دې زرگـونو ډلو په جوړولو او د حقي اسـلامي ډلي په ورک كـولو باندې ډيـره سـرمايه لگولې ده او د دا ډول ډلـو او اختـلافاتو په توسـط يې ډير كـارونه تر سره كړي...

ځيـنو ځـايونو ته يې داسې خـپل خلک ليږلي وي چې د ملا په نامـه هغوی ته اسـلام يو ډول تعـبيروي، او ځينو نورو ځايونو ته يې بيـا بل سـړی ليږلی وي چې اسـلام بل ډول ورته تعبيروي.

ورځ تر بلې اخـتلافات ډيروي او ورځ تر بلـې د غرب له افكارو څخه متـاثره شوي خـلک ډيريږي.

دا اختلافـات د مسلمانانو لـپاره خوارا گران تـمام شوي د مثال په ډول :

د سومالیا د اسلامي حرکت په اړه به مو اورېدلي وي، دا اسلامي حرکت د سومالیا د توفک سالارانو د مخنیوي په خاطر په ۲۰۰۶ م کال کې په جلا جلا ولایتونو کې لومړی په جلا جلا نومونو را منځته شو.

او د یو څه وخت وروسته ټول اسلام پال سره په د موګادیشو کې متفق شوه او د موګادیشو څخه ئې اسلامی حرکت را پیل کړئ، ټول توفک سالاران یې ورک کړل او د ۱۵ کلنو جګړو وروسته پکې د شپږو میاشتو لپاره ښه ارامه ارامي راغله.

خو تر دې وروسته د حرکت د مشرانو د متفاوت نظر له امله امنیت له منځه لاړ او بیرته د جګړو په میدان بدل شو او نړیوالو لاسوهنې نوره جګړه هم پکې پراخه کړه...

همدا ډول د افغانستان تاریخ که وګورو نو د شوروي اشغال ته د افغانانو له خوا د سختې ماتې ورکولو وروسته افغانستان هم خاص د همدا ډول حالت سره مخ وو...

قدرمنو لوستونکو! تاریخ تر هر چا ښه درس ورکونکی دی، که تاریخ وګورو هر انقلاب تر کامیابه کیدو وروسته یوازي او یوازي د خپل منځي اختلافاتو او بهرنیو لاسوهنو له لاسه بیرته په ملا مات شوی دی

اسلامي نظامونه هم څو څو ځله د خپل منځي اختلافاتو ښکار شوي دي خو الحَمْدُ لله په هر وخت کې الله ﷻ د مسلمانانو لپاره د ویښتابه سرلاري پیدا کوي تر څو د مسلمانو فکرونه را ژوندي کړي...

هر ځای او هر وخت د سید قطب، سید جمال الدین افغان، عبدالعزیز الطریفي، استاد یاسر، حسان زلمی او په زرګونو نورو پر اسلام مینو مسلمانانو په شان خلک را پیدا کیږي، دوی د مسلمانانو ځوان نسلونه له بربادي را ژغوري، او د کفارو له هر ډول د سایسو څخه یې خبروي...

## ۱۹. اوسنـــي د زده کړې سیــــــــستم...

زده کړه د بریا کیلي ده او هـدف یې یوازې د پرمختګ لپاره د سیده لارې تاکل نه دي بلـکې د انسان د معـنویت او شخـصیت د جوړیـدو هنـر هم باید ورسـره ملګـرى وي.

په دې مـقاله کې زما هـدف د ټولې نړۍ د زده کړې سـیستم دى، او د افـغانسـتان او نـورو هغو هـیوادونو د نصاب چې د غربـیانو تحت اثر دي په هکـله به ډیر څـه نه وایم، ځـکه په دې خو شایـد هر څوک پوهـیږي چې د دې هـیوادونو نصـاب د امریکا په خوښـه د امریـکا په مالــي لګښـت د امریکایې نظـارتچـیانو په حضـور لـیکل کیږي او ډیزاینـیږي...

او که څوک په دې نصـاب سره له غربـیانو سره سـیالي غواړي، نو دا ډیره د احـمقانو نظـریه ده ځکه دغربیـانو چې څه خوښـه وي هغه یې ستا په نصاب کې ځاى پر ځاى کړي او له حقـایقو یې ډیر لـیري کړى او محـدود کړى یې ئې...

د داسې امریکایې نصـابونو مثال داسـي دى لکه یو نابلـده شخـص ته چې یو ډیر بلد خو مـنافق شخـص یوازې د جـعلي منزل ته د رسیدو ډیره خرابه او ګـډه وډه لار ښـه یې، او داسې ورته وایې چې پر دغه لار لاړ شـه. پـام چې لار غلـته نه کړې بل خـوا لاړ نـشې یوې اوبلې خواته هم مـه ګوره د ښـه ویره ولو لـپاره ورته وه هم وایې چې که دې لار غـلطه کړه نو د خوشـحاله او کامـیابه ژوند څـخه لاس هم پرېمـینځه؛ هـمدا ستا منزل دى ژر ژر مـنزل ته ځان ورسـوه نور په لاره کې د یو او بل خوا د کـیسو په فـکر کې مه کیږه....

دا هر څـه د دې لپاره وکـړي چې د نابلده شـخص ټول تمرکز پر جعلي مـنزل شي په هر رنګه چـې وي دى ځان ور ورسـوي، نور د لارې کـیسه کې هم نه شي...

دلتـه نابلـده مسـافر د افغانـستان او هغو هـیوادونو چې د امریکا تـحت اثر دي متعلـمین او محصـیلین دي، او لار ښـوونکى بلد منافق شخـص د داسې هیـوادونو لپاره د امریکا د نصاب کمـیته ده او خـرابه لار د دوى په لاس جـوړ شوى خراب او ګډ وډ نصاب دى...

ایا داسې نابلـده مـسافر به که د بلـد منافق شخـص په خوله روان وي د سمـې لارې پـیژندل وکولاى شي او تر هغو چې د بلد منـافق شخـص سره یارې پرېنـږدي اصلي منزل ته به ورسیږي؟

ایا د بلد منافق شخص په مطابعت به یو وخت له هغه سره د سیالي دعوه وکولای شي؟

معلومه خبره ده چې ؛ نه.... تر څو چې نابلده مسافر د بلد شخص په منافقت پوه نشي او د هغه پر ښودل شوې لار شک ونه کړي او د سمې لارې او اصلي منزل د پیدا کولو فکر ونه کړي، نو تر هغه وخته به د منافق شخص تر لاس لاندې وي او غلام په څیر به د هغه پر ښودل شوې لار قدم وهي...

په هر حال لکه څنګه چې مې پورته وویل دلته زما هدف نړیوال سیستم دی نو موضوع ته به راشم

زده کړه د بریا کیلي ده او هدف یې د انسان معنوي او مادي ژوند جوړول دي.

خو اوسني د زده کړې سیستم داسې ندی طرحه شوی چې تاسو ته ریښتینې بریا درکړي بلکې یوازې تاسو ته دا احساس درکوي چې ورځ تر بلې زیات پوهیږئ..

د زده کړې دا ګډ وډ نړیوال سیستم اصلا یواځې انسانان د یوې میموري په شکل کار وي یعنی یو روباټ ځینې جوړوي.

ډول ډول شیان یې دماغ کې ثبت کوي په هغه شکل چې کتاب کې راغلي وي او دوي بیا هیڅ له کتاب بهر نشي ویلای هر څه ورته زده شوي وي؛ دماغونه او فکرونه یې ډیر سخت محدود شوي وي.

تاسو د پوهنتون د محصیلینو ستړیا ته وګورئ دوي ډول ډول پوښتني لرې تول ګنګس دي.

ولې دا شیان وایم؟... څه او چیرته دا پکار راځي؟

اوسني د زده کړې میتود ستاسو څخه د خلاقیت قوه لیرې کوي د ازاد فکر کولو جرئت درڅخه اخلي. فکر مو په ځانګړو شیانو او یوه مشخصه دایره کې متمرکز کوي او تاسو ته وایې تاسو باید دغه څه زده کړئ، او یوازې مو پر مادي اړخ هغه هم د مزدورانه ژوند کولو له میتود سره کار کوي.

دا خلاقیت ندې موږ یواځې د پخوانیو اشخاصو نظریات څیړو او زده کوو یې موږ یواځې په هغه څه پوهیږو چې موږ ته ویل شوي وې، یا د دوی خوښه وي چې پرې پوه مو کړي.

بل خوا ساینس د نظریاتو علم دی او دا ستونزې راولاړوي ځکه نظریات تل رښتوني نه وي او ډېر څه پکې غلط وي او ځیني یې دروغونه دي چې قصدا خلکو ته ورکول کیږي لکه د انساني نسل د ارتکا نظریه او د دې دروغو په تاسو د رښتیا په ځای منلو لپاره دوه لاري کاروي

لومړی د زده کړي اجباري سیستم تاسو ته له ماشومتوبه د دې نظریاتو خبري کوي او د ښه یقیني کولو لپاره یې دوهمي لاري یعني رسنیو څخه کار اخلي او تاسو ته په فلمونو او مستندونو کي هغه معلومات بیا نشروي تر څو ښه یقیني شی چې دا هر څه رښتیني دي.

د دې دوو مغز مینځونکو وسیلو په وسیله ټول هغه معلومات چې تاسو یې تر لاسه کوئ کنټرولوي او لاسوهنه پکې کوي؛ او په دا ډول مو خلاقیت بیخي له منځه وړي.

جولیا کمرون وایي: نشو کولای چې خلکو ته خلاقیت د تعلیم په وسیله ورکړو خلکو ته اجازه ورکړئ چې خپله خلاقیت لرونکي شي، او خپل په خوښه د یو شي په اړه فکر وکړي.

ستیو جابز د پوهنتون ووت ، بیل ګیتس پوهنتون پریښودی، د نړۍ سترو کاشفانو او میلیاردرانو اصلاً پوهنتون ویلی هم نه دي، دا مهال په نړۍ کې نهه سوه پنځوس میلیاردران دي، په دوی کې هیڅ پروفیسور یا اکادمیک شامل نه دی.

ایلان ماسک د اوسني نړۍ نابغه وایي: ما په سترو پوهنتونونو کې درس ندی ویلې خو د نړۍ د سترو پوهنتونونو فارغان زما تر لاس لاندي کار کوي.

دا زموږ د زده کړي سیستم دی اډیسن ( د څراغ او زرګونو نورو برقي شیانو کاشف او مختریع ) یې د تمبل په نوم یاد کړو.

اصلا پوهنتون او مکتب کې ستاسو استعداد نه ازمویل کیږې بلکې ستاسو حافظه ازمویل کیږي، که البرټ انیشتاین ( د ماډرن فزیک پلار ) په همدې پوهنتونو کې درس ویلا هغه به په لومړي کال ناکامه واي ځکه هغه هیڅ هم نشوه یاد کولای خو هغه اوس د یو نابغه په نوم پیژندل کیږي ځکه هغه استعداد درلودی.

مشهوره امریکایي ژورنالیست او مقاله نویس ایچ ایل مینکین وایي: د زده کړې د سیستم موخه اصلا روښانه فکر نه دی بلکې د افرادو د پوهې کچه ښکته کول د امن په حد کې دي، تر څو ښاریان د اختلافاتو او اصلاحاتو نه تیر شي.

مشهوره جرمني لیکوال هنریش بل وایي: چاچې د مکتب څخه راته ښودلي تر مکتب یې ډیر څه راته ښودلي.

د هند د خاوري لوی سرمایدار موکیش امباني وایي: بریا دې د کالج یا پوهنتون پر ځای له کارخانې یا بازار څخه راځي...

د دې سیستم چلونکي یوازې دومره علم در زده کوي چې تاسو په ادارو او کارخایونو کې کار پر مخ یوسې اصلا هغوی مزدوران غواړي...

نو د دې سیستم چلونکي څوک دي، چا جوړ کړی او ولې داسې کوي؟

دا سیستم د نړۍ تجاراتو او سیاستمدارانو( ایلو میناتي او فریمیسن ) جوړ کړی او هغه د خپلو اجنټانو او غلامانو په وسیله د پرمختلې تر نقاب لاندي چلوي.

هغه خلک چې خپله په دې سیستم کې هیڅ نه دې لوبیدلي غواړي چې د ټولي نړۍ د راتلونکي نسل څخه د فکر کولو توان واخلي، دماغونه یې ور ومینځي او د ازاد فکر کولو په ځای هغه شیان ور واچوي چې د فکرکولو توان له منځه وړي، او په دا ډول دوی غواړي چې خپل ځان ته د ګوسفندانو لښکر جوړ کړي او هر څه چې بیا دوی ورته وایې هغه پرته له دې چې د پایلو، حق او ناحق په هکله یې فکر وکړي د دوی لپاره به یې کوي.

په عموم کې د دوی پسونه مزدوران پکار دي او معلومیږي چې د اوسني سیستم څخه هم دا خلک فارغه کیږي، معلومه خبره ده چې هر څوک تر فراغت وروسته په یوه وظیفه ( مزدوري ) پسې ګرځي؛ فکر کوم د دوی د زده کړي هدف به مزدوري پیدا کول وه.

د هند د خاوري مشهوره لیکوال سعادت حسن خان منټو به ویل: چې د تعلیم اساسي مقصد نوکري لاس ته راوړل وي، نو ټولنه به نوکر زیږوي، نه چې رهبر.

او دا خلک اوس نوکران غواړي له رهبرانو ډیره زیاته ویره لري.

افسوس چې دا اوس نړیواله ستونزه ده، دا خطر یوازې مسلمانانو یا یوې خاصې ډلې ته نه دی بلکې دا خطر اوس انسانیت ته دی.

۱- موږ ته څه کول پکار دي؛ ایا پوهنتون پرېږدو ؟

زه نه وایم چې پوهنتون نور پرېږدئ زما مطلب تاسو ازاد فکر وکړي تاسو د هغوي د مزدورۍ لپاره زده کړه مه کوئ یوازې پر هغه څه تمرکز مه کوئ چې هغوي یې درته وایي خپل د فکر ساحه مو پراخه کړئ په نړۍ کې اوس هم په میلیاردونو مبهم شیان شته چې څوک نه دي پرې پوهیدلي هڅه وکړئ هغه مبهم شیان پیدا کړئ، او یوځل پر هر هغه څه شک وکړئ چې تاسو ته د دې سیستم په وسیله پیچکاری کیږي، فکر وکړئ...

مشهوره امریکايي پروفیسر او لیکوال نوام چومسکي وایي: هیڅوک به ستاسو مغز ته پوهه وانه چوي تاسو باید خپله فکر وکړئ او پیدا یې کړئ.

۲- ایا یو بل داسې سیستم شته چې موږ ته ربښتینې پوهه راکړي؟

سیستم نشته تاسو باید خپله خپل ځانته سیستم جوړ کړئ خپل له فکر او دماغ نه کار واخلئ.

د هنګري د خاوري د مشهوره اروپوه لاسزولو پولګر وایي: هر انسان په یوه مشخص بخش کې نابغه وي، که چیري له کوچنیوالي څخه په همغه بخش کي وروزل شي.

نو ته هم خپل بخش پیدا کړه او په هغه کې له ځانه نابغه جوړ کړه، مطلب دې باید لوړې نمرې نه وي ځکه ټول خلک قوي حافظه نلري خو ټول خلک په یوه بخش کې هتما استعداد لري یواځې خپل بخش پیدا کړه او وځلېږه.

قدرمنو لوستونکو: دا سیستم مشخصو خلکو د مشخصو اهدافو لپاره جوړ کړی، په داسې حال کي چې د هر ډول علومو ریښه له اسلام څخه سرچینه اخلي او د اسلام دین موږ خیرلو او موندونو ته هڅوي دا تصادفي نه ده چې په دې سیستم کې د سلګونو هغو اسلامي علماوو نوم نه اخیستل کیږي چې د ساینس په برخه کې تر ټولو مخکښ وه، یعني دوی تر هر چا زموږ سره ډیر ضد دي.

دا څنګه کیدای شي چې د غرب طرز په نقلولو سره د هغوی مقابله وکړئ... بدلون پکار دی.

## ۲۰. مـــــلا بـــايد وړيـــږئو...

دا معلومه خبره ده چي د ربښتيـــني مـلا سره سيـكولران او د لوديځ فکري او سياسي مـزدوران او تالي ځـتي د يوې ناولـي پروژې په ډول دښـمني کـوي.

پدې ترتيـب سره هـڅوي د ديني علماؤ، ملايـانو، زمـوږ د دين، هويـت او فکري ويښتـابه تمثيـلونکو علـماؤ او په حاضـر دور کـې د مسلـمانانو د اسلامي ويـښتابه د سـرلارو علماؤ توهيـــن کوي، تر څو په اسلامي نړۍ کې د ديـــن خدمت کونکي، د دعوت او اسلامي پراختيـــا سرلاري او اتلان توهيـــن او د ډول ډول بنديزونو ســره مخ کړي او په نړۍ کي روان د اســلامي پراختيــــا مخ په وده حالـــت له پښــو وغــــورځوي.

خو هـغه خلک چې دملا (دينـــي عالم) په صـفت او اسلام ته د پر مخـــتلې او عصـري کولو په پلـمه يــې امريـــکايي اسلام ښه پر مخ بيـــولی وي او د اسلام د حقيــقي او مقـدسي رښا د خـــپرولو پر ځای د يــې د غــربيـــانو د ډيمــوکراسۍ جـعلي او پلـــتي رڼا د خپـــرولو قسـم کړی وي هغه بيـــا دوی ته د اعتبـار وړ وي او خپـل پلـيت او خفيـــه دسايـس د دوی په مـرسته تر بې خـــبرو عوامو رســـوي.

او کله کله لږ سطحی بنـــديزونه يـــې ځکه پرې لګولي وي تر څو د مـــسلمانانو په زړونو کې يـــې مقـــام نور هم زيــــات کړی په لــوړه مقــاله کي هم د داسي خـــلکو په اړه ويل شـــوي وه خو د مـــثال په ډول به يې څـــو نور هم را واخــــلو.

ذاکر نايــک: يو لامذهبــه او په نـــوم اسلامـــي خو ډيـــموکراټ عالم چـې د بې خبرو عــوامو په زړونو کي يې له دې امـله دروند ځای پيدا کړی چې په لکونو هنــدوان، ... يې په خپـــل علـم او منطـــق مسلمـــانان کړي، خـــو اصلــي خبره دا ده چې د ده په لاس مسلــمانان شوي د هيڅ مذهــب پلويان نه دي د ده پــه څير د ده په لاس ډير مسلمانان شوي ډيموکراتان بــيرته په لومـــړيو کې له اســلامه اوښـتي وي چې شايد د ده هدف هم يوازې سطـحي ايمـــان وي.

نومــــوړی اســلام د اســلام څـخه ناخبرو خلـکو ته د غــربيـــانو په خــوښه او کلـــتور سره وړاندي کوي تر څو هــغه له حقـــيقي اســلام او اســـلامي کلتور څخه خــــبر هم نشي.

مولانا وحید الدین : یو مبهوم مذهب په نوم دیني خو د امریکایي اسلام خپرونکی غربي عالم چې د خلکو په منځ کې یې د اسلام د ریښتني معنا د راسپړولو په زریعه تینګ محبوبیت پیدا کړی؛ او د نوموړي دا عقیده ده چې له هر څه به یوازي د هغه د عملو په هکله پوښتنه کیږي یعني خپل ځان اصلاح کړه نور دي مه د اولاد، مه هیواد او مه اهل په فکر کې کیږه، نور چې هر څه کوي تا پوري اړه نه لري..

خو د ریښتیني مسلمان لپاره دا د منلو خبره نه ده، ځکه ریښتیني مسلمان به د ټولي جامعې په فکر کې وي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر به فرض ګڼي...

مولانا فضل الرحمن، پروفیسور عبدالرب رسول سیاف او د دوی په څیر په زرګونه نور بیا پر جمهوریت ایمان لري..

منصور الکیالي، منیر شاکر او د دوي په څیر په زرګونه نور بیا د اسلام د تحریفولو، مشکوک کولو او اختلافاتو د رامنځته کولو کوښښ کوي...

بشیر احمد الحنفي او د ده په څیر نور پایخوړ یوازې په نوم ملایان بیا د ( انسانیت او هیواد تر دین او مذهب پورته دی ) بابو لالي ږغوي... و امثال هم

په اسلامي نړۍ کې تر یو مقدس نوم او شعار لاندې د روانو غمیزو، انسان وژنو، انساني ناحقه قتلونو، مذهبي اختلافاتو او کشمکشونو، دځینو مذهبي خرافاتو، په ساینسي ډګر کې د مسلمانانو د وروسته پاتې والي، د ساینس او سیاست څخه غلط مذهبي تحلیل او تفسیر، تکفیري فتواؤ او تاپو له ډیرو عواملو څخه یو هم خپله دغه له دین څخه ناخبره، د دین له واقعي تفسیر څخه ناپوه، درباري او د پردیو پروژه یي ملایان دي.

قدرمندو لوستونکو! که چیري ملا په واقعي ډول خپل مسولیت او ماموریت تر سره کړي، له دین څخه د دنیوي او اخروی مسایلو په هکله درست او حقیقي تفسیر وړاندي کړي، د مذهبونو او سیاسی حرکتونو ترمنځ د اختلافاتو د حل تکی پیدا کړي نو روانه بدمرغي به د اسلامي امت له سره په بشپړ ډول لیري شي او په ګرده ( کروي ) نړۍ کې به د اسلام زرین دور بیا را ژوندی شي... یاد لرئ چې د ریښتني علماوو احترام د ایمان یوه برخه ده، او توهین یې ایمان له زړه او وجود څخه باسي...

## ۲۱. د وینښتابه له سرلارو څخه د شیطاني لښکرو ویره...

معلومه خبره ده چې غربیانو هروخت په عسکري جګړه کې له مسلمانانو څخه ماتې خوړلې.

له پیله تر صلیبي جګړو او بیا تر اوسه کفارو د مسلمانانو په وړاندې په عسکري جګړه کې هیڅ بری نه دی لیدلی، په همدې خاطر کفارو فکري جګړې ته مخه کړې.

نو هر وخت چې د ویښتابه سرلاري د دوی د سیاسو او چلونو تر پوهیدو وروسته پیدا شوي دوی یې له منځه وړل حتمي ګڼلي، دلته به د ځینو په هکله وږغیږو...

- ۱ سید قطب رحمه الله یې بندي کړی کله چې له زندانه خارج شو د اخوان المسلمین ځینو غړو ورسره اړیکه ټینګه کړه او سید قطب رحمه الله ته یې وویل چې دوی منظم پلان لري چې د حکومت څخه د هغه ظلم انتقام واخلي چې د اخوان المسلمین سره یې کړی.

خو سید قطب رحمه الله ورته وویل: بدلون وروسته له دې راتلای شي چې ځوانان وروزل شي داسې نه چې انقلاب رامنځته شي خو روزل شي کسان موجود نه وي.

او دا خبري سید قطب رحمه الله په محکمه کې بیا قاضي ته هم په لاندې شکل وکړې:

سید قطب: ما دوی ته وویل چې انتقام کوچنی هدف دی.

قاضي: نو لوی هدف مو څه دی؟

سید قطب: لوی هدف دا دی چې داسې نسل وروزل شي چې خپل په دین و پوهیږي، د ټولنې له امورو خبر وي، د ځان او دین ازلي دښمنان ښه سم وپیژني...

- ۲ د فلسطین د مبارکې خاورې مشهوره فعال، لیکوال او سیاسي شنونکی غسان کنفاني په نړۍ کې یوازینی مسلمان کماندو وو چې په ټول عمر یې یوه مرمۍ هم نه وه فیر کړې ( د هغه وسلې د اخبار پاڼې او د قلم رنګ وو)

خو دا سړی غرب ته دومره خطرناکه تمام شو چې په ۳۶ کلنۍ کې د موساد لخوا د بیروت په هوایي میدان کې بمبار پرې وشو؛ نوموړی د ټولې نړۍ پر انسانانو بږغ کړی وو چې د فلسین قضیه یوازې د فلسطینیانو قضیه نه ده بلکې په دې سیاره کې د هر صادق وګړي قضیه ده.

د یوه غـــربي خبریـــال او غســـان کنفاني تر مـــنځ یـــوه مرکه په لاندې ډول ده تاســـو یې وواياست شايـد په ډېـرو شیـانو پوه شئ!

خبریـــال: تاســـو ولې له اسرایـــلو سره د سولې خـــبري کول نه غـــواړئ؟

کنـفاني: ستاســو مطلب د سولې ربښتیـــني خبري نه یـــاد وئ؟ نړیـــوال توب یـــاد وئ، تسلیـــمي یـــاد وئ؟

خبریـــال: نه ... فقـــط خبـري؛ ولې د دوی له مشـــرانو سره خبري نه کوئ؟

کـــنفاني: دا نو مطـــلب د توري او غاړې تر منـــځ مـــذاکرات یاد وې؟

خبریـــال: ښه نو که په خـــونه کې توره او وســلـه نه وي بیـــانو ښه اسانه خبري کیـــږي.

کنـفاني: ما خو تر اوسه د دې نړیـــوالو داســـي څه نه دي لیـــدلي؛ خو بیـــا هم د څه باره کې به مذاکـــرات او خـــبري کوو؟

خبریـــال: د جـــنګ نه کولو د امـــکان په اړوند...

کنـــفاني: د څه څـــخه د جنـــګ نه کولو په اړوند یعـــني پر کوم شي بایـــد جنـــګ و نه کړو؟

خبریـــال: د هر څه په اړوند د جنـــګ نه کولو...

کنفـــاني: ګـوره! وګړي عـــموما د یو ارزښت او معیـــار لپاره مـــقاومت کوي او د یـــو ارزښت لپاره مـــقاومت پریـــږدي؛ نو بنـــاً دا نه ســـې ویـــلای چې مـــوږ د څه اړوند د جـــنګ نه کولو خبـــري وکړو؟

خبریـــــال: ولې د اوربـــند اړوند خبري، د مـــرګونو، ویـــجاړې یـــو او دردونو د درولـــو اړوند...

کنـــفاني: ویـــجاړې، دردونه او مـــرګونه د چا...؟

خبریـــال: د فلسطنیـــانو، عربـــو او اسرایـــلو...

کنــــفاني: د فلسطنيــــــانو! د چا چې ريــښه وخــتل، په کيــمپونو کې وغورځول شوه، څــوک چې له لــوږې د مرګ سره مــخ شوه؛ د شلــو کلــنو څخه قتليـــږي،د فلسطيــن د نوم د اخيــــستلو بنديــز پرې لګېــدلی او د خپــلو حقوقو څــخه بې برخـــي دي...

خبريـــــال: نو دا حالـــت خو هم تر مرګ ښــــه دی...

کنـــفاني: شايـــد تاســـو ته به وي خو مـــوږ ته نه؛ موږ ته د خپـــل هيــواد ازادي، مـــوږ ته خـــپل شان او عزت مـــهم دي، موږ هم غواړو خـــپل اساسي حقوق ولرو دا هر څه خـــپله موږ ته د ژونـــد په څيـــر مـــهم دي.

موږ ته اســــلام او اسلامي قوانيـــن تر هر څه مـــهم دي...

محترمو لوستونکو! د ويښــتابه د سرلارو د ژوند څيـــړل کتابونه کتابونه تشـــريحاتو ته ضـــرورت ولري، په دې مقاله کې يې همـــدا مثالونه بس دي.

له دې څـــخه به تاسو ته ښــه معـــلومه شوې وي چې غرب او کـــرايه شوي اجنتان يې له هغو خلـــکو ســـره چې د حقـــقي اسلام مينـــه يې په زړه ننوتې وي ډيـــر ضـــد وي.

ياد ولـــرئ د کـــافرانو په زړونو کي د مسلـــمانانو لپاره د همدردی عنـــصر نشته ، د کافرانو فطرت داســـي دی چې د مســـلمانانو لپاره هيڅ هـــمدردي هم نه لري؛ ځکه د دوی هـــڅه دا وي چې مســــلمانان په هيـــڅ حالت کې تر دوی مخـــته لاړ نه شي او يا هيـــڅ ښه ورځ ونه وينـــي.

هر هغـــه څه چې غرب مسلـــــمانانو ته د هـــمدردی او خواخوږی په نوم راوړي تر شا يې خــــپل ناوړه اهـــداف لري ، که تاســـو ته تاريخ معـــلوم وي په يمن کي د هغه خـــفيه امريکايي استخـــباراتي ډاکټري مرسا چې د ظاهـــري ترحم له وجې د خلکو په منځ کې د فريښـــتې په نوم پيـــژندل کيده خو د دې هدف د يمن جګړه ځپلو خلکو ته د درملني په پلـــمه ډول ډول ويرسونه تطـــبيق کول وه او وروسته افشا شوه؛ او په زرګـــونو نور داسي مـــثالونه ....

ياد لرئ! مســـمانان په زړونو کي پاک دي او ډير ژر د يو چا په فريبانه او چلبازه مسکا راګيـــرېږي خو مسلـــمانان بايد تل ويـــښ وي د کافرانو ناوړه اهـــداف درک کړي او د هغوی په منـــافقو شـــعارونو چې د بشـــريت د حقوقو لپاره يې پورته کـــوي هيـــڅوخت هـــم ونه غـــولېږي...

## ۲۲. اســـــلامي امته ...

هغه محال چې مسلمانو ساینسپوهانو د لمر د ترنـخي وړاندوینه کول اروپایانو به په کوڅو کې منډې او چیغې وهلې او ویل به یې چې لمر پیریانو نیولی...

اسلامي امته! څه شو ستا هغه د برم، عظمت او علم پړاو هغه چې یهودانو، عیسایانو او مشرکانو جزیې در کولې هغه چې په هر ډګر کې تاسو ته محتاج وه هغه چې تاسو د علم او جګړې په ډګرونو کې له ټولو مخکې واست...

څه شو هغه ستاسو خلافت او اتحاد، په تاسو کې اوس ولې د خالد بن ولید، طارق بن زیاد، موسی بن نصیر، قتیبه بن مسلم، عقبه بن عمر، محمد بن قاسم، علی بن حزم، عبدالرحمن بن خلدون، محمد بن موسی، جابر بن حیان، ابن تاشفین، عمر مختار او زرګونو نورو په شان فاتحین او عالمان نه پیدا کیږي...

ته اوس د ذلت کندې ته لویدلی یې مظلوم یې تجزیه شوی یې قتلېږې بې عزته کېږې، دین هیواد او کلتور دې له ننګوونو سره مخ دی؛ قدس یو ځل بیا د صلیبي جګړو لاندې راغلی په تاسو کې صلاح الدین ایوبي نشته...

چنګیز خان او هلاکوخان بیا پر اسلامي نړۍ څمکه سره تبې کړې... تاسو ټول څه وخت ته انتظار یاست. ... ستاسو یاد شي تا سو په کمو امکاناتو ستري امپراتوری تنګولې.

دا لوبه څنګه بدله شوه ؟ اروپایان څنګه د نړۍ سرداران شوه ؟

اروپا د کتاب او علم درناوی وکړ د سکوت وروسته را پاڅېده او د عظمت خاونده شوه.

خو موږ وروسته له هغه چې هالاکوخان د بغداد کتابتونونه د سیند په څپو کې و بهول او د پنځلس ورځو لپاره د کتابونو او نسخو د رنګ له امله د ویالو او سیندونو اوبه توري وې بیا تر اوسه خپل فکرونه د جهالت په تورو تیارو کې بندیان وساتل، موږ د خپلو اسلافو تاریخ ته شا کړه د اسلامي خلافت مفکوره مو رد کړه.

د مادیاتو په طمعه مو خپل عزت د صلیب په پښو کې وغورځوی؛ همدا ده چې اقصی یهودانو ونیول، بخارا د اسلام په ځای د شرک، الحاد او کفر مرکز شو.

ازاد اندلـــس د یهودو او نصــاراوو ګډ مرکز شو ، اسلامي هند ته انګریــزان راغلل، ترمیــز د صلیــبیانو کور شو.

یمــن ته بیــا د قیصر او قیــصرا لښــکري راغلې، د محمد ﷺ وطن او وطــنوال د غربي او شرقي مشرکانو حلیــفان شول په شام او عراق کې د ویــنو سیــلابونه راغلل د حلـب کوڅې هم دانن د مؤمیــنو مســلمانانو په جسدونو ډکي دي.

ازاد ترکـــستان ورک شو؛ عثماني قصطنـطنیــه ورکه شوه حالات بر عکس شوه.

ستا ســـو قـــوت څـــه وو...؟

اصلاً ستــاسو قوت ټیــنګ ایمــان او عقیــده وو، قوت د نړیــوال خلافت فکر وو، قوت د اسلامــي نړۍ اتحاد او اتفاق وو، قوت دار تــه هرکلي وو، قوت عـــلم او عرفان وو...

اسلامي امتــه! راځــئ د رسوال اللهﷺ او اســلافو زرین تاریــخ ته مخ وګرځوو ، راځــئ د اســلامي خلافــت فکر خپل کړو، راځئ یــو ځل بیــا خندق وباسو...

یــو څــو ورځي په نــس ډبري وتړلو او دا سنــت هم را ژوندي کړو، راځــئ بیــا د قریزه وو څــخه سرونه غوڅ کړو، راځــئ د پیــغمبر امر دی د خیــبر وروستی کلا په منجنــیق وولو، راځــئ نن قربــاني ورکړو او د احد میــدان جوړ کړو...

راځــئ د نجشــو کافرانو سرونه په نیــزو وپیــو، راځــئ د نیــزو په څوکو د مشرکانو کلاوو ته ځان ور وغورځوو او په یواځــي تن د الله تعالیٰ د دښـــمنانو سره مقابله وکړو.

راځــئ ابو بصیــر غوندي په خالي لاس او تکــې تــنها بهر ته ووځو او له هغه ځایه خپل د ایــمان زور کــبرجنو ته وښایو.

راځئ د ابو حذافه غــوندي په جګو ســترګو زندان ته ورشو، راځــئ نن د متکبریــنو مخ ته تکبر وکړو، راځــئ نن د ابو جهـــل سر راوړو ؛راځئ چې شریعــت په ټوله نړۍ نافــذ کړو...

محترمو لوستونکو! ایــا د دې وخــت نه دی چې د غفــلت د خوبه راویښ شو د علــم، عرفــان او جهــاد سره مینه پیدا کړو او بــیا هغــه څه تر لاســه کړو چې موږ د لاسه ورکړي...؟

## ۲۳. د نړیوالو نظامونه لنډ مثال...

اسلام د انسانیت لپاره د مخلوقاتو د خالق له خوا د انسانانو لپاره را لیږل شوی قانون دی، له کومې ورځې نه چې الله ﷻ انسان خلق او د کرامت خاوند کړی شیطان د حسد بغض او کینې له مخې وعده کړې چې دا انسان به د خپل خالق له پیروی اړوم او گمراه کوم به یې، همدا خاطر دی چې د هر اسماني دین په خلاف دریدلی او د هغه دین د له منځه وړلو لپاره په بدیلونو پسې گرځي.

شیطان انساني دوستان هم لري هغه چې د الله ﷻ له لارې یې اړه ولې او خپل لارې ته یې سیخ کړي هغوی هم د الهي قانون پرځای د شیطان په مرسته بدیلونو لټوي.

اسلام د منځلاریتوب دین دی هغه نه موږ ته د کاپیټالیزم په ډول په هر ډگر او هره لاره د ځان د مشبوع کولو اجازه راکوي او نه هم د کمونیزم په ډول مو زند او بند تړي

اسلام په هر ډگر کې د دنیوي او اخروي ژوند د جوړلو ځانته تگلاره لري په دا ډول چې د ټول انسانیت لپاره خیر وي، ځکه دا تگلاره د خالق له لوري جوړه شوې، د اسلام په تگلاره کې د ټول انسانیت خیر وي...

راشئ چې دلته د شیطان پرستو د محدود عقل له لوري جوړو شوو ځینو قوانینو مثالونه وړاندې کړو او دا وگورو چې لږ زره هم د انسانیت خیر په کې شته که نه...؟

په دې مثالو کې دوه غواگانې لرئ اسلام وایي دا ستاسو ملکیت دی او په اسلامي حدودو کې تاسو ازاد یاست چې په دې دوو غواگانو هر څه کوی، په شریعي طریقه تاسو د دې غواگانو عام او تام مالق یاست خپل خوښه مو ده خیراتوی یې، شیدې یې خرڅوی، په هبه کې چاته ورکوی او که یوازې خپل ځان په چلوی دا ستاسو مسولیت او ملکیت دی بل څوک په کې د مدا خلې هیڅ اجازه نه لري...

اوس به راشو د شیطان پرستو د قوانینو له رویه تاسو باید څه وکړئ...

سوسیالیزم: دوه غواگانې لرئ، یوه ځان سره ساتئ، بله همسایه ته ورکوئ...

کمونیـــزم: دوه غـــواګانې لرئ، دولـــت دواړه درنه اخـــلي، او شیـــدې یـــې تا او ســـتا ګاونډي ته په مســـاوي ډول درکوي...

فاشیـــزم: دوه غـــواګانې لرئ، شیـــدې یې دولـــت ته ورکوئ او دولت یې بېرته په تاسې پلوري...

کاپیـــتالیـــزم: دوه غواګانې لرئ، لوشـــئ یـې او شیـدې یـې پر څمکه تویـوئ، دا کار د دې په خاطر کـوئ چې د شیـــدو قیـــمت لالوړ شي...

نازیـــزم: دوه غـــواګانې لـــرئ، دولـت تر هغې جـــګړه درسره کوي، چې دواړه یې درنه اخیـــستې نه وي...

آنارشیـــزم: دوه غواګانې لرئ، تاســـې د همـــدې دوه غواګانو لـــخوا وژل کېږئ او هغوی خـــپل منځ کې یـــو بل لوشي...

سادیـــزم: دوه غواګانې لرئ، په دواړو غـــواوو ډزې کوئ، شړئ یـــې او خپل ځان د شیـــدو په لوښـــو کې اچوئ...

آپارتایـــډ: یـــوه سپیـــنه او یـــوه توره غوا لرئ، دواړه شیـــدې کوي خو تاسې توره غوا لوشئ او شیدې یې سپیـــنې غوا ته ورکوئ خو سپیـــنه غوا نه لوشئ...

مرفه دولـــت: دوه غواګانې لرئ،دواړه لوشئ او بېرته یـې شیـدې همدغو دواړو غواوو ته ورکوئ...

بـــوروکراسی: دوه غواګانې لرئ، دواړو ته د تابعیـــت تذکرې اخیـــستلو لپاره ۱۷ فـــورمې به درې پړاوونو کې ډکوئ، په دې کار د مصروفیـــت له امله وخت نه درته پیـــدا کېږي چې دواړه غواګانې ولـــوشئ...

ملګـــري ملتونه: دوه غـــواګانې لرئ، خو د امریـــکا، روسیـــه، چـــین، فرانـــسه، او برتانـــیا که خوښـــه وه لوشئ به یې او که یې نه وه خوښـــه بیـــا به یـــې نه لوشـــئ...

ریـــالیـــزم: دوه غواګانې لرئ، واده کـــوئ خو بیـــا هم د غواګانو لوشـــل ستاسې پر غاړه دي.

فمیـــنیـــزم: دوه غواګانې لرئ، حق نلـــرئ چې وې لوشئ، ځکـــه بیـــا به خپل ځان هم لـــوشئ مســـاوات دي نو...

پلورالیـــزم: یــو غویــیٔ او یــوه غوا لرئ، هر یــو یــې چې لوشــئ فرق نکوي...

لیــبرالیــزم: دوه غواګانې لرئ. شیــدې لري خو نه یــې شئ لوشلی. ځــکه ازادي یـــې مــحدودیــږي، دا د غواوو خوښــه ده چې ځان لوشئ که نه...

دموکراســي: دوه غواګانې لرئ، له خــپلو کلیــوالو رایــه غواړئ چې ویــې لوشــئ او که نه؟ که مو اکثریــت رایــه وګټــله لوشلی یې شئ او که نه نو نه یې شی کولای...

بنســتپالنه: دوه غوایــی لری خو د شیــدو پر ځای یــی بایــد له خوشایــو (سوټو) ځخه استفاده وکړئ ځکــه چی فضلیــت لري...

محترمو لوستــونکو! دا یو څو محــدود مثالونه وه همــدا شان په ســلګونو نور د انســاني او شیــطانی محــدود عقــل له لوري جوړ شوي نظــامونه هم شــته...

دا به تاســو ته ډیــره ساده خبــره ښکاري او دومــره مهــم به یــې نه بولی خــو که تاســو د دا ډول نظامــونو سابــقه او قانونــات وګورئ او غور پکي وکــړئ نو پوه به شــئ چې دا نظــامونه او احکــام د انســاني فطرت سره هیــڅ نه لګــیږي...

اســلام د اســاني فطرت دیــن دی او د عــزتمندو، فکــرکونکو، پوهــه او با وقاره خلکو هــدف وي، ځکــه خو اکثــره د یادو اوصافــو خاوندان ورته راځي، که تاســو په غــرب کي د نوو مســلمانو شوو شخصــیتونو بیوګرافي او پوهه وګورئ نــو ښــه به درته ثابــته شي...

Downloaded From:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
WhatsApp:00971501455350

# ۲۴ . د پای هیــــله...

لومړی: دا به ووایم که چیـري په کوم حکم او یا کومه موضوع کي خطا شوی اوسم نو ښښنه راته وکړئ او خـپل غلطی ته مې متـوجه کړئ...

دوهـم: هیـله لرم چـې د اسـلام د حـقانیت، عظمـت او له فطـرت سره د مطـابقت له رویه د اسلام سره میـنه ولرئ نه په دې خاطـر چې دا مې د پـلار او نیـکه دیـن دی او یـوازې رواجي مسـلمانان و اوسئ، ځان د اسلام په پوره حقانیـت پوه کړئ...

دریم : هیــله ده چې ربښتیـني او د الـهي دین عالـمان وپیـژنئ د هغوی احتـرام او درناوی وکړئ خو د غرب لخـوا متـاثره شوي او د هــغوی اجیـرانو عالـمانو او کوډګرانو ته هیـڅکله هم احـترام مــه لرئ...

څـلورم: هیـله ده چـې د خپـل کورونو د ښځیـنه وو او مـاشومانو پوره خـیال وساتئ او خدای نکرده هسـي نه وي چې د غرب غولونکي دسیـسې یې د اسلامه ډیـر لیري نه کړي...

پنځـم: هیـله مې د کورنیـو له مشـرانو څـخه دا ده چې د خپـلو تور سرو د حجـاب مسلې ته ډیـر دقیـق و اوسـئ، نـن ورځ چې په ښـارونو کي په کوم ناز او نواز او کوم تنـګ تور یـوازې په نوم حـجاب کي ښځې ازادانه روانــي وي نو د دې کــورنئ نارینه وو ته بې‌ــغیرته ویل کیږي؛ ځکـه زمـوږ خواته یـوه مقـوله ده چې وایي:

د نارینـه د لبـــاس نه د ښځـــې نظافـت او د ښځي د لباس نه د نارینــه غیـرت معلومـیږي...

شپـږم: هیـله مې د خپـلو اسلامي خوندو څخه ده چـې حیـا ، عفـت او عظمت په ځان کي پیـدا کړی د سـتر او حجـاب مسـله جدي ونـیسئ

ځیــني وایي زموږ زړونه پـاک دي خو دا د زړه خبـره نه ده بلکي امـر دی کلـه چې د حجـاب او سـتـر احکام را نازل شوه نو د نړۍ غـوره او په زړه پاکو خلکو( صحابه کرامو) په ځانـونو عملي کړه هغوي و نه ویل چې زموږ زړونه پاک دي...

دا د کـتاب پای نه دی خــو اوس زما د نورو مصروفیـاتو له امـله هم دومره بـس دی بیا به یـې ان شاء الله نور هم اوږد او منظموم... د دعا په هیله مو... عصمت